دولت جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت اقتصاد

ریاست عمومی طرح وتوحید

# د زابل ولایت داقتصادي او توليدي ظرفيتونو پيژندنه




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مطالبو لړ لیک:

فهرست


سریزه: ........ 4

د زابل ولایت لنډه پیژندنه: ........ 5

*آب او هوا (اقلیم):* ........ 5

*د زابل ولایت د اوبو سرچینی:* ........ 6

د زابل ولایت د اقتصادی او ټولنیز وضعیت تحلیل: ........ 6

د نقوس د ودی تحلیل: ........ 6

د بیوزلی د میزان تحلیل: ........ 7

د بیوزلی لاملونه : ........ 7

*۱ . د تعلیمی کچی ټیټوالی* ........ 7

*۲ . بیکاری* ........ 7

*۳. نا امني* ........ 7

*۴. د وګړو نا متنا سبه وده:* ........ 7

د سکتورونو په تفکیک د کاري بوختیا تحلیل: ........ 8

*د زابل ولایت کاري ځواک د خصوصی سکتور، دولتی او غیر دولتی ادارود په تفکیک په لاندې ډول دي.* ........ 8

د زابل ولایت د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو پیژندنه: ........ 9

تولید، صنعت او خدمات: ........ 9

صنعتی پارک: ........ 14

تقاضا :- ........ 16

خدمات :ـ ........ 17

پوهنه او لوړی زده کړی: ........ 17

مخابراتی او انترنیتی خدمات :ـ ........ 17

ګمرک: ........ 9

*د شملزو ګمرک په اړه معلومات:* ........ 9

*د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګریزی اړیکی:* ........ 9

*د افغانستان - پاکستان د سوداګری او ترانزیت تړون:* ........ 10

د ګمرک اقتصادي ارزښت : ........ 12

*د زابل د شملزایی ګمرک د سوات تحلیل:* ........ 14

ننګوني: ........ 14

د قوت نقطې: ........ 14

فرصتونه: ........ 14

د زابل د زراعتی محصولاتو ظرفیت: ........ 18

(c) ketabton.com: The Digital Library

*د زابل ولایت کرهنیزه ځمکه د ولسوالیو په تفکیک سره :* ........................................ *18*

**د زابل ولایت د مهمو زراعتی محصولاتو پیژندنه او ظرفیت: ........................................ 19**

*بادام:* ........................................ *19*

*2. انځیر:* ........................................ *20*

3. انګور: ........................................ 21

*4. پسته:* ........................................ *21*

5. انار ........................................ 21

د زراعتی محصولاتو لپاره د بازار تحلیل: ........................................ 22

نتیجه ګیری: ........................................ 23

**د تازه میوو د برخی کرهنیز محصولات : ........................................ 23**

تازه میوی: ........................................ 23

*انار:* ........................................ *23*

*زردالو:* ........................................ *24*

*منه:* ........................................ *24*

*هندوانه او ختکی:* ........................................ *24*

د تازه میوو لپاره د بازار تحلیل: ........................................ 24

*په زابل ولایت کې طبي بوټي:* ........................................ *25*

د زابل د زراعتی محصولاتو د کرنې، روزنې، ساتنې او پلور په برخه کې ستونزي: ........................................ 25

د زراعتي محصولاتو د تولید او صادراتو د مقدار زیاتوالی لارې: ........................................ 26

**د زابل ولایت د مالداری محصولات: ........................................ 27**

د شته محصولاتو په اړ لنډ معلومات: ........................................ 27

په زابل کې د مالداری شته ظرفیت: ........................................ 27

علفجر او څرځایونه: ........................................ 27

د مالداری د اقتصادی ارزښت تحلیل: ........................................ 28

وروستی نتیجه ګیری: ........................................ 29

په زابل ولایت کې د حیواناتو د شته فارمونو په اړ د هغوی د تولیدی ظرفیت په اړوند معلومات: ........................................ 29

نتیجه ګیری: ........................................ 36

دزیربنا سکتور د اقتصادي او ټولنیزې پراختیای د موجوده سرچینو او پوتنشیل تحلیل: ........................................ 36

**د زابل د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو لومریتوب بندی: ........................................ 38**

د لومړی، دویم او دریم لومریتوب اقتصادی او تولیدی ظرفیتون تحلیل: ........................................ 38

*د اوسنی وضعیت تحلیل ( پروفایل ):* ........................................ *38*

د تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو د اغیزمنتوب د تحلیل ارزیابی: ........................................ 39

د ولایت د تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو د پایښت تحلیل: ........................................ 40

د غوښتنې او تقاضا تحلیل: ........................................ 40

د پراختیایی ستونزو په نښه کول: ........................................ 41

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عوایدو تحلیل:........................................................................................................ 42
د کاری فرصتونو رامنځته کول: ........................................................................................ 42
**وروستي پایله (نتیجه گیری): ......................................................................... 43**
*پایله: ................................................................................................................... 43*
ستونزی او ننگونی:................................................................................................ 44
وړاندیزونه او حل لاری:........................................................................................ 44
ماخذونه او سرچینی:............................................................................................... 0

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه:

د زابل ولایت د اقتصاد ریاست د زابل د مخ پرودی اقتصاد او ټولنیزی پراختیا د تشخیص ستراتیژی او پالیسی د ترتیب او جوړولو لپاره د بازار د اقتصاد پر بنسټ  او د اقتصادی فعالیتونو د تطبیق د کنټرول او نظارت په اساس د ولایت په سطحه فعالیت کوی، دغه ریاست په ولایت کې د متوازنی پراختیا  او د اقتصادی غربت اوبیوزلی له منځه وړلو، د خلکو د ژوند دسطحی د لوړولو، د سړی سر عاید د زیاتولو، د خصوصی سکتور د ملاتړ او هڅونی په اساس چې د اقتصاد په پرمختګ او د خلګو د ژوندانه د سطحی د لوړلو په برخه کې اساسی رول لری د دولت د پالیسیو د پلی کولو مسؤلیت لري.

د اقتصاد ریاست اصلی ماموریت د اقتصادی فعالیتونو منظمول، هماهنګې،پلان جوړونه، د اقتصادی پالیسی او طرحو جوړول، د زابل ولایت د اقتصادی او پراختیایی پلان ترتیب، د غیر دولتی موسساتو د انکشافی کړنو تنظیم او منظمول، په ولایت کې د اقتصادی او ټولنیزو پروژو او پروګرامونو څخه د نظارت  اوارزیابی  دنده په غاړه لری. د  افغانستان د پایداره پراختیایی موخو (A-SDGs) شاملول په پلانونو او ملی پراختیایی پروګرامونو کې، ددی سره په څنګ کې د زابل د اقتصادی او تولیدی ظرفیتونو تحلیل او څیړل او د اقتصادی پالیسیو او ستراتیژیو څخه متوقعه او ترلاسه کیدونکی پایلی د تعین شویو مکانیزمونو او سیستونو څخه په ګټه اخیستنی سره ورڅخه نظارت او ارزیابی کوی. د ترلاسه شویو اهدافو او موخو ګزارش ولایت مقام او د اقتصاد وزارت مقام سره شریک کوی.

په دې ګزارش کې د زابل ولایت اقتصادي ، تولیدي ظرفیتونه او پوتانشیلونه تحلیل شوی چې د ولایت د اقتصادی او تولیدي ظرفیتونو پیژندنه د محدوده مالی سرچینو څخه د مؤثره ګټې اخیستنې لپاره د پریکړو کولو موثره وسیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زابل ولایت لنډه پیژندنه:




زابل ولایت دګران هیواد افغانستان  د۳۴ ولایتونو څخه دهیواد په سهیل لوېدیځ کې د شمالی عرض البلد په ٦٦ درجو او ۵۴ دقیقو او ختیځ طول البلد د ۳۲ درجو او ۷ دقیقو ترمنځ  موقعیت لري، یاد ولایت شمال طرف ته له غزني او اروزګان ،غرب طرف ته له کندهار او اروزګان ،جنوب طرف ته له کندهار اوپکتیکا سره اوشرق طرف ته له پکتیکا او پاکستان سره د٦۳ کېلومتره په اوږدوالی ګډه پوله لري او ټول مساحت یې   17471.8 km² ده. زابل ولایت یا پخوانی زابلستان د پښتنو د لرغونو قبیلو ټاټوبی، د کابل ـ کندهار پر لویه لار پروت  دی او دکابل هرات لویه لاره د(۱۷۸)کېلو مــــــــــتره په اوږدوالـــــي دنوموړي ولایت شاه جوی ولسوالي،  مرکز قلات ښار ، ترنک اوجـــــلدک ولسوالیو څخه تیریږي یاد ولایت ۴۵ کاله وړاندې په رسمي ډول د خپلواک ولایت په توګه ونومول شو د یاد ولایت دوګړو شمېر داحصایې له مخې  (377648) تنه ښودل شوی دي  چې ترسره شوي سروې د دې ولایت د خلکو د تایید وړ نده او سربیره پردې په نوموړي ولایت کې تخمیناً (800000)  وګړي په ۱۰ ولسوالیو او مرکز قلات کې ژوند کوي چې دغه شمېره د عامې روغتیا ریاست سره ثبت او راجستر ده د زابل ولایت مرکز د قلات ښار دی، یاد ولایت د۱۵۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ پورې  کوچنی او غټ کلی لري او دولایتي پلازمینې په توګه د دی ځای څخه ټول ولایت او ولسوالیګانې اداره کېږي . زابل چې د هیواد د ولایاتو په درجه بندی کی دریمه درجه ولایت و په  1398 هجری شمسی کال کی زابل ولایت ته د جمهور رئیس تر راتګ ورسته یی دوهمی درجی ته ارتقاء وکړه چې بدبختانه تر اوسه د دوهمه درجه ولایت مطابق تشکیلات او امتیازات ندی ورکړل شوی .

**اوبه او هوا (اقلیم):** زابل ولایت نیمه صحرایي اقلیم لري، د ارغنداب ،دایچوپان ،لوړه او د ترنک مهمو سیندونو یې اقلیم اغیزمن کړی، چې دترنک د رود په امتداد یې په منځنیو نقاطو کې د اوربنت کچه د۱۰۰ او ۲۰۰ ملي مترونو او په لوړو نقاطو کې یې یاده کچه د۲۰۰ او ۳۰۰ ملي مترونو په مینځ کې ده، په اوړي کې په مرکز قلات ،شهرصفا ،میزانه او ارغنداب ولسوالیوکې د تودوښې/تودوخې درجه تر۴۰ درجوپورې هم رسېږي او د ژمي په موسم کې یې دحرارت درجه دصفرڅخه ترمنفي ۵ درجو پورې ښکته راځي، چې ژمی یې نسبي معتدل او اوړی یې ګرم بللای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د زابل ولایت د اوبو سرچینې:

دزابل ولایت د سویل لوېدیځې حوزې یو له هغو ولایتونو څخه دی، چې ۸۰ سلنه وګړي یې په کرهنه اومالـــــداری بوخت دي، د ارغنداب، ترنک، لوړه، او ماروت سیندونه د یاد ولایت د اوبو غوره سرچینې دي او په تخمینې توګه ( ٦٢٠٠٠ ) هکتاره ځمکه یې خړوبوله. د لوړه سیند د وچکالی په سبب یوازې د ژمې په موسم کې اوبه لرې، د ارغنداب سیند چې د بابا غره د واورو څخه سرچینه اخلی یو د هغو سیندونو څخه شمیرل کیږی چې د کال په ټولو موسونو کې په لویه پیمانه اوبه پکی بهیږی، ددی ولایت کاکړ، ارغنداب او میزانی ولسوالیو څخه تیریږی او د هغه ځایه د کندهار ولایت ته بهیږی، ددی ترڅنګ په ډیرو ولسوالیو کې د اوبو سرچینی کاریزونه، چینی، ژوری څاګانی او د اوبو تالابونه دی. زابل د هغو ولایاتو څخه شمیرل کیږی چې په تیرو کلونو کې وچکالی ډیر زیات ځپلی ده او ددی ولایت کرهنه او مالداری یې د خطر سره مخ کړی چې ورسره د کرهنیزو او مالداری محصولاتو کې ډیر کمښت راغلی ده.

## د زابل ولایت د اقتصادی او ټولنیز وضعیت تحلیل:

### د نفوس د ودی تحلیل:

د احصائي او معلوماتو د ریاست د معلوماتو په اساس په ۱۳۹۸ کال کې د زابل د وګړو ټول نفوس (377648) تنه ښودل شوی دي، همدارنګه ددی ترڅنګ په یاد ولایت کې (۲۳۱۴۸۰) کوچنی کوچیان هم اوسیږی چې نفوس یې (۱۱۵۷۵۵) تنه ښودل شوی ده ددی ولایت د ټول نفوس (192345) نارینه او (185303) ښځینه تشکیلوی چې د ټول نفوس 49٪ جوړوي او د جنس نسبت یې ۱۰۳٫۸ دی یعنې د هرو سلو ښځو په مقابل کې ۱۰۳٫۸ نارینه موجود دي، د احصایي او معلوماتو د ملی اداري د ۱۳۹۸ کال په احصایو کالنې کې د زابل نفوس 384349 تخمین شوی دی. د زابل ولایت د نفوس پراختیا په ۱۳۹۸ کال کې 0,017% وه یعنی په کال کې ددی ولایت په نفوس کې 6323 تنه ور اضافه شوی دا یوازځی رسمې ارقام دی، په لري پرتو سیمو، کلیو او بانډو کې زیږنونه(ولادت) د روغتیا پالانو پرته په کورونو کې ترسره کیږی همدرانګه په ډیری کلیوالی سیمو او بانډو کې خلګو تذکری ندی اخیستی. چې د نفوس دغه وده ددی ولایت اقتصادی او پراختیایی وضعیت ته په کتو سره ډیره چټکه روانه ده ځکه ددی ولایت کلنې اقتصادی او انکشافی وده په هغه اندازه نده په کومه اندازه چې ددی ولایت نفوس وده کوی.

داچې د زابل ولایت نفوس په ډیره چټکی سره وده کوی مګر ددی ولایت د خلګو ورځنی اقتصادی وضعیت په ډیره ټیټه سطحه کې دی او په زابل ولایت کې ٪۷۵ نفوس د فقر او غربت د سطحي لاندی ژوند کوی. په یاد ولایت کې خلګو ته د کاری زمینی، زده کړی، روغتیا په برخه کې ډیر کم او د نشتون په حساب کار شوی، دنفوس دغه چټکه وده او یاد ولایت ته کمه پاملرنه د اندیښنی وړ ده چې په نژدی راتلونکی دغه ننګونه په یو لویه ستونزه بدلیدلی شي.

دا چې زابل یوکرهنیز او مالداریز ولایت دی، ددی ترڅنګ چې د یاد ولایت خلګو ته د کاری زمینی د برابرولو، رروغتیا، پوهنې او ټولنیزو برخو کې کار ندی شوی او کمه تاملرنه ورته شوی چې د اقتصادی ودی د ټکنی کیدو او د فقر او بیوزلی د سطحې د لوړیدو سبب شوی په یاد ولایت د نفوس وده شاید په راتلونکی کې یوه بله ستونزه هم رامنځته کړی هغه دا چې دلته د کرهنې وړ ځمکه لږ ده نو که چیرته هره کورنی شپږ یا اوه اولاده ولری کله چې دغه ځمکه د اولادونو تر منځ وویشل شي نو بیا د ځمکې د کمښت ستونزه هم رامنځته کیږی چې دغه ننګونه هم د یاد ولایت د اقتصادی ودی په ټکنی کیدو او د غربت د سطحې په لوړیدو کې مهم رول لرلی شی ددی لپاره چې د زابل نفوس د اقتصادی ودی او پراختیا سره یو ځای مخکی ولاړ شی اړتیا لیدل کیږی چې ددی ولایت خلګو ته د نفوس د ودی د خطرونو او رامنځته کیدونکو ستونزو په هلکه پوهاوی ورکړل شی ددی سره په څنګ کې د نفوس د کنټرول یو منظم او اساسی پلان جوړ او عملی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم زابل د ترانزیت له اړخه مهم ستراتیژیک موقیعت لری د هیواد مرکزی شمالی او شرقی ولایتونه د هیواد د سهیل لویدیځ او لویدیځو ولایتونو سره نښلوی ددی مهم ستراتیژیکی موقیعت سره سره بیا هم د هیواد د نورو ولایاتو په نسبت د تولید، صنعت ، خدماتو، تجارت ، زیربناوو په برخه کی وروسته پاتی دی .

### د بیوزلی د میزان تحلیل:

د بیوزلی د ملی تعریف په اساس هغه وګړي چې ورځنی سرانه درامد(عواید) یې له ۳۰ امریکایی ډالره یا 2060 افغانۍ څخه کم وی د بیوزلی تر کرښې لاندې راځي.

د بیوزلی د ملی تعریف په اساس  د افغانستان د نیمایی څخه زیات وګړي د غربت تر کرښه لاندی ژوند کوی  او دزابل د بیوزلی کچه د ۱۳۹۹ مالی کال د بودجې په سند کې ۷۵٪ ښوودل شوې ده.

د نړیوال بانک د نوي دوه ډالری تعریف په اساس هغه وګړي چې ورځنی سرانه عاید یې له دوه  امریکایی ډالره څخه کم وی د بیوزلی تر کښې لاندې را ځي، د بیوزلی ددې تعریف په اساس د افغانستان د ۹۰٪ څخه زیات وګړي د بیوزلی تر کرښې لاندې ژوند کوی او دزابل د محدوده لوړ رتبه مامورینو او یو شمیر غیر دولتی موسساتو له کار کوونکو پرته نور ټول د زابل میشت نفوس د بیوزلی تر کرښې لاندې راځي.

### د بیوزلی لاملونه :

**۱ . د تعلیمی کچې ټیټوالی**

- زابل د نورو ولایتونو په نسبت  ډیر کم ښوونځی، ښوونکی او زده کوونکی لری.
- د زابل په ډیرو ولسوالیو کی فعاله لیسی حتی ابتداییه  ښوونځی هم شتون نه لری .
- زابل د نورو ولایتونو په نسبت کم لوستی ځوانان له  بکلوریا ،فوق بکلوریا  او لیسانس فارغین لری چی له همدی امله کم شمیر په دولتی ادارو کی په مدیریتی او لوړ رتبه اداری دندو کی بوخت دی .

**۲ . بیکاری**

که څه هم  په زابل کې د ځوانانو د بیکاری دقیقه سروې نه ده ترسره شوې او د بیکاری حقیقی ارقام شتون نلری خو داسې احساس کیږي چې د زابل ۳۵٪ د کار پر شرایطو برابر ځوانان مناسب کار نلري.

**۳. نا امني**

زابل د هیواد  د نا امنه ولایتونو څخه شمیرل کیږي چې ددولت تر کنترول لاندې قلمرو ډیر محدود دی چې له هم دې امله د نورو ولایتونو په نسبت په زابل کې کمې انکشافی پروژی تطبیق شوی او تطبیق کیږي.

**۴. د وګړو نا متنا سبه وده:**

د زابل دنفوس وده د هیواد او په ځانګړی توګه د زابل د اقتصادي ودې سره متناسبه نه ده، خصوصی سکتور چې د کاری فرصتونو د رامنځته کیدو اساس جوړوی په زابل کې کاملآ غیر فعال دی چې له همدې امله د ولایت اقتصادي وده ډیره ټیټه ده.

د زابل دنفوس ډیره برخه ځوانان او د ۱۵ کلونو څخه کم عمره ماشومان جوړوی چې په چټکی سره د کار عمر ته د رسیدو په حال کې دی او په کاري ځواک کې  شاملیږي، په داسی حال کې چې د کار بازار د شغل د چمتو کولو ظرفیت نلری

همدارنګه د نفوس ګړندې وده په ښوونیز او روغتیایی سیستم او موجوده د کرهنې ور څمکو فشار راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سکتورونو په تفکیک د کاري بوختیا تحلیل:

د اقتصاد وزارت د اساسي او استراتیژیکو موخو څخه یو هم د کاري ځواک لپاره د مناسبو کاري فرصتونو ایجادول دي او دا هغه وخت امکان لری چې د افغانستان د هر ولایت د تولیدي سرچینو، ظرفیتونو او امکاناتو څخه استفاده وشي، بیکاری د انسانی سرچینو له اتلاف څخه علاوه مختلفي سیاسی، اقتصادي او ټولنیزی ستونزې له ځان سره لری. دمنابعو اتلاف په ځانګړي توګه د انسانی سرچینو بیکاری د هیواد انکشاف او وده له رکود سره مخ کوی او د بیوزلی لمنه په ټولنه کې پراخیږي.

دا چې په زابل کې څومره دکار په شرایطو برابر ځوانان شته او له جملې یی څومره بیکاره دي  دقیق ارقام نشته مګر دخصوصی سکتور، دولتی او غیر دولتی ادارو له طریقه مجموعآ 13298 وګړو ته په اداري، مسلکی او غیر مسلکی دندو کې دکار زمینه برابره شوې ده.

### د زابل ولایت کاري ځواک د خصوصی سکتور، دولتی او غیر دولتی ادارود  په تفکیک په لاندې ډول دي.

- د دولتی ادارو په چوکات کې د زابل ولایت ټوټل تشکیل  ۳۴۵۴ دی چې له جملې یی 2621 کسان په کار او 833 بستونه خالی دي همدارنګه په دغه 2621 کاري نیرو کې 172 یی ښځینه کار کوونکي دي چې د موجوده کاري ځواک 6.5% تشکیلوي چې د نورو ولایتونو په نسبت ډیره کمه ده، د ۱۳۹۹ مالی کال وروي میاشتې کې شاوخوا ۷۵۰ پنځم او شپږم بستونه د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د خپلواک کمسیون لخوا اعلان شوی دي.
- د دولت لخوا په تطبیق کیدونکو ودانیزو او خدماتی پراختیایی پروژو کې په تخمینې توګه ۵۰۰۰ کسانو ته د لنډ مهاله او اوږد مهاله کاري فرصتونه برابر شوی دي.
- له ۱۸۰۰-۲۰۰۰کسانو ته د غیر دولتی موسساتو له طریقه د کار زمینه برابره شوې ده.
- خصوصی سکتور په زابل ولایت کې په نشت حساب دی یواځې درې کوچنی فابریکې چې یوه د پلاستیکي پایپ جوړونې او دوه د یخې د تولید فابریکې د ۱۵ میلیونه افغانیو په پانګونې سره فعالیت کوی چې 40 کسانو ته یی دکار زمینه برابره کړې ده، په تعداد د ۷۰ کسانو ته د مرغداری په برخه کې د کار زمینه برابره ده
- په تعداد 3567 کسان په سوداګری او اصنافو کې په کار بوخت دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زابل ولایت د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو پیژندنه:

**تولید، صنعت او خدمات:**

په زابل کی لوی سوداګر او پانګوال شته چی د تولید په برخه کی پانګونه وکړی په ځانګړی توګه د سیخ ګول، ګاډر ، المونیم، پلاستکی توکو، فرنیچر، نجاری ، غوړی، لبنیات ، ډول ډول جوسونه، روب، د دیګ مساله باب ، اوبه او ګازداره نوشابه باب، پلاستکی خریطی او بوجی ، چپلک او بوټ تشناب کاغذ،خوراکی توکی، ودانیز مواد ، ریګ ، خشت ، جغل ، بلوک، مزایک ، کاشی او د بناکاری مواد لکه بیل ،کلنګ.

## ګمرک:

**د شملزو ګمرک په اړه معلومات:**

زابل له پاکستان سره ٦۴ کیلو متره فرضی کربنه لری چې 30کیلو متره یی دکندهار ولایت دپوله ساتونکو ځواکونو لخوا ساتل کیږی او نور پاتې په بشپړه توګه ساتونکی نلری د یاد ولایت د شملزو ولسوالی یو د هغه ولسوالیو د جملی څخه ده د پاکستان سره په سرحد موقعیت لری او د زابل ٦۴ کیلو متری فرضی کربنه هم د یادی ولسوالی یوه برخه ده. د شملزو ګمرک د افغانستان د زابل ولایت د شملزو ولسوالی د ځنځیر سیمې څخه د پاکستان هیواد د بلوچیستان ایالت د بادینی او مسلیم باغ منطقو پوری غزیدلی ده د شملزو ولسوالی د زابل ولایت د مرکز قلات څخه ۱۰۴ کیلو متره فاصله لری او یاده ولسوالی یو د پراخ مساحت لرونکو او لوی نفوس لرونکو ولسوالیو د جملی څخه ده ددغه ولسوالی مساحب (۲۸۹۴) کیلو متره مربع ده او د (۲۷۸) په شاوخوا کې کوچنی او غټ کلی لری، د رسمې ارقامو په اساس شملزو( ۳۵۸۸٦ ) تنه نفوس لری، د زابل ولایت د شملزو ولسوالی ګمرک چې اوس تازه رسمي شوی چې ددی ولسوالی د ځنځیر په نامه سیمه کې موقعیت لری، د یاد ګمرک او مرکز قلات تر منځ (۱۵۱) کیلو متره فاصله ده چې د یادی لوی لاري ۴۸ کیلو متره سړک د مرکز قلات څخه د شینکی ولسوالی د سره غره تر ساحې پوری په پاخه ډول سره جوړ شوی، پاتی ۱۰۳ کیلو متره سړک تر اوسه خامه او په اساسی ډول ندی روغول شوی، یاد ګمرک د شملزوا ولسوالی د ځنځیر د سیمې څخه بیا د پاکستان بادینی سیمی ته غځیدلی ده د هغه ځایه د یاد هیواد د مسلیم باغ ولسوالی او د بلوچیستان ایالت مرکز ته رسیدلی ده ډیری وخت قاچاقبران او د دولت مخلفان دتجارتی توکو ترڅنګ بی کیفیته مواد په قاچاقی او غیر قانونی توګه له دې لاری صادر او واردوی او د تجارتی توکو محصول هم ددولت دمخلفانو لاسته لویږی، دزابل ولایت دګمرک پرانیستل به ددی لاری د لنډوالی، دقاچاقی او غیر قانونی صادراتو او وارداتو په مخنیوی کې مهم رول ولوبوی او همدارنګه به د هیواد د اقتصادی ودې ، امنیت ټینګښت او دګمرګی عایداتو په زیاتوالی کې به هم مهم اغیز ولری.

### د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګریزی اړیکی:

د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګری د۱۲۵۰ حجری شمسی کلونو راهیسی شروع شوی ده او د هغه وخت څخه تر نن پوری د بیلابیلو پړاونو سره دغه راکړه ورکړه مخامخ شوی ده چې ډیری وخت پاکستان افغانستان ته د ټرانزیټ په برخه کې خنډونه رامنځته کړی دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هیواد دی او سمندر ته مستقیمه ته لار نه لری او تر ډیره په هغو هیوادونو باندی ولاړ دی چې د سمندر ته مستقیمه لار لری او بحر سره نژدی موقعیت لری ډیری وخت پاکستان د افغانستان د ټرانزیټ او سوداګری د صادراتو، وارداتو، حمل او نقل په برخه کې ستونزی جوړوی چې تر ډیره حده پوری غواړی ددی لاری په افغانستان باندی سیاسی او اقتصادی فشار وارد کړی، د افغانستان او پاکستان تر منځ د ټرانزیت او سوداګری تړون په ۲۰۱۰ م کال کې لاسلیک شو او همدارنګه په ۱۹٦۵ م کال کې د نړیوالو کنوانسیونو په چوکاټ کې افغانستان د ټرانزیټ او سوداګری تړون لاسلیک کړی چې دغه دوه تړونونه ددغه دوه هیوادونو ترمنځ سوداګری او ترانزیټ قانونی کړی ده او همدارنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۶۵ م کال د ملګروملتونو د سوداګرۍ او ټرانزیټ د معاهدی په اساس پاکستان په دی مکلف دی چې افغانستان ته تر ګوادر بندر پوری د ترانزیټ لاره ورکړی.

په لومړیو کې ددغه هیوادونو ترمنځ سوداګریزی او ترانزیټ په پراخه اندازه وو او په لویه پیمانه یی ترمنځ سوداګری کیدله چې تقریبآ په کال کې تر ۵ ملیارده ډالره پوری رسیدله، مګر په تیرو پنځو کلونو کې دغه سوداګری راټیټه شوی ده چې تقریبا ٪۴۰ ته راکمه شوی ده اوس په کال کې په اوسط ډول تر ۲ میلیارد ډالره پوری رسیږی، دغه راکړه ورکړه په تیرو کلونو کې یوازی د تورخم او سپین بولدک د لاری ترسره کیدله په ۱۳۹۹ کال کې د غلام خان بندر هم په رسمې او قانونی ډول د صادراتو او وارداتو پرمخ پرانیستل شو.

که چیرته ددی هیوادونو ترمنځ سوداګریزی اړیکی ښه شي او د ترانزیټ په وړاندی شته خنډونه او ستونزی له منځه ولاړی شي دغه سوداګری به نوره هم وده او پراختیا وکړی چې کولای شو ددی لاری د دواړو هیوادونو تولیدات په ښه ډول سره د سیمې او نورو نړۍ هیوادونو ته ورسوو، هغه توکې چې ددغو ګمرکونو د لاری صادر او وارد کیږی د کیفیت او اصلیت کنټرول یی وکړو.

همدارنګه که چیرته ددغه دري رسیمې ګمرکی لارو سربیره نوری لاری هم رسمی شی لکه د زابل د شملزو ګمرک او د پکتیکا د ګومل ګمرګ نو دغه سوداګریزی اړیکی نوری هم پراخیږی او سوداګری غوړیږی چې د دواړو هیوادونو د اقتصادی پرمختګ لامل کیږی.

### د افغانستان - پاکستان د سوداګرۍ او ترانزیت تړون:

منځنۍ آسیا تاجکستان ، ازبکستان ، ترکمنستان ، قرغیزستان او قزاقستان د خپلواکۍ ترلاسه کولو وروسته د دوه سویلي آسیا سیالانو (هند او پاکستان) لپاره یو په زړه پورې بازار بدل شو .

لکه څنګه چې د طالبانو د رژیم له رانسکوریدو وروسته د مرکزي آسیا هیوادونو سره د هند سوداګریز حجم زیات شو ، او د پاکستان د حکومت په غوښتنه ، د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارتونو د 2010 کال په وروستیو کې د افغانستان - پاکستان- اوپټا سوداګرۍ او ترانزیت تړون لاسلیک کړ.

د تړون په اساس ، افغانستان د واګه بندر او د پاکستان ګوادر او کراچۍ بندرونو ته لاسرسی وموند. دواړه هیوادونه وتوانیدل چې په 2006 کې د خپلې سوداګرۍ اندازه له 0.83 میلیارده ډالرو څخه په 2013 کې 2.4 ملیاردو ډالرو ته ورسوي.

سربیره پردې د ملي یووالي د حکومت له پرانیستې وروسته د افغانستان ولسمشر پاکستان ته د خپل سفر پرمهال ژمنه وکړه چې تر 2017 کال پورې به د سوداګرۍ حجم 1000 میلیارده ډالرو ته لوړ کړي.

**د اپټا تړون ننګونې:**

که څه هم د دواړو هیوادونو تر منځ د ترانزیت او سوداګرۍ تړون د افغانستان او پاکستان تر منځ د سوداګرۍ حجم ډیر کړی ، خو په وروستیو کلونو کې د ګڼو ستونزو لامل شوی چې په نهایت کې د تړون د ځنډیدو لامل شوی ، چې اصلي ننګونې یې په لاندې ډول بیانولی شو

- د اوپیټا ترانزیت او سوداګرۍ تړون د دواړو هیوادونو لپاره ورته ګټه نه رسوي.

د اوپیټا تړون پراساس به افغان سوداګر وکولی شي خپل سوداګریز ملکیت هندي بازارونو ته د واګه بندر له لارې صادر کړي ، خو دغه سوداګر به ونه شي کړای له پاکستان څخه هندي سوداګریز ملکیت وارد کړي د پاکستان ترانزیت او تجارت په ورته وخت کې د داسې شرایطو پرته د مرکزي آسیا هیوادونو ته ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاکستان حکومت لخوا د اپټا ترون سرغړونه د لوړي توقيف فيس ، پاکستان ته د ننوتلو اجازه او د تورخم ، چمن او سپين بولدک بندرونو په پرله پسې ډول د بنديز لاملونه و چې د دې ترون سرغړونه يې لامل کړې.

- غيرقانوني تجارت او د سوداګريز ملکيت قاچاق د دواړو هيوادونو لپاره لويه ستونزه ګڼل کيږي. د پاکستان د احصايې د ادارې په وينا ، دغه هيواد په اوپټا ترون کې د غيرقانوني سوداګرۍ له لارې په کال کې شاوخوا 1 billion ډالر له لاسه ورکوي. او د ټايرونو لپاره د پاکستان غوښتنه 37 سلنه د افغانستان څخه د غيرقانوني سوداګرۍ او قاچاق له لارې پوره کيږي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو اتاق په وينا ، د پاکستان سرحدي چارواکو پر افغان سوداګرو اضافي بنديزونه وضع کړي دي ، لکه د سوداګرۍ جوازونه ، بانکي حسابونه او د ترانزيت جوازونه افغان سوداګر اړ باسي چې په ناقانونه توګه "بډې" ورکړي.

د پولې په دواړو خواو کې د ټولو سوداګريزو توکو تحويلول د افغان او پاکستانيو سوداګرو لپاره يوه لويه ستونزه ده. څنګه چې د دواړو هيوادونو تر مينځ ډيری تجارتي توکي د خرابيدو ملکيت دي ، نو بيا تکرار کول د ملکيت د خرابيدو او وخت ضايع کيدو لامل ګرځی.

- د بانکي همکارۍ نشتوالی د دواړو هيوادونو د سوداګرو يوه اصلي ستونزه ده څکه چې سوداګر اړ دي چې خپلې پيسې په غيرقانوني او غير رسمي ډول د سوداګريزې ملکيت پيرلو لپاره د پولې دواړو غاړو ته انتقال کړي ، کوم چې د دواړو هيوادونو سوداګرو لپاره ډيری ستونزې رامينځته کوي.

لکه څنګه چې د اپټا ترون يو څه ستونزې رامينځته کړې ، نو اړينه ده چې د دې ترون شرايط ترميم شي. د اوپيټا ترون کې اصلاحات به نه يوازې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګرۍ او ټرانزيټ ته وده ورکړي ، بلکه د افغانستان - پاکستان د سويلي او مرکزي آسيا هيوادونو ترمنځ د پله په توګه به وده وکړي چې د يو بل منابعو ته اړتيا لري. د دې دوه بلاکونو اړتيا (د مرکزي آسيا هيوادونو او د سويلي آسيا هيوادونو) ته د دې حقيقت څخه څرګنديږي چې د مرکزي آسيا بلاک کافي سرچينې لري لکه بريښنا ، ګاز او تيل چې د اوپيټا ترون ترميم لپاره د سويلي آسيا هيوادونو کې غوره بازار موندلی شي. ، لاندې ټکي په پام کې نيول کيدی شي:

- د اوپټا په مينځپانګو کې بدلون لازمي دی ، څکه چې په اوسني وضعيت کې ترون نشي کولی په افغانستان کې د سوداګرۍ او ټرانزيټ ودې لامل شي.

- د هراړخيز تجارت او ترانزيت ترون په لاسليک کولو سره ، دواړه هيوادونه کولی شي د اوپټا دوه اړخيز ترون څو اړخيز ترون ته وغزوي چې پکې هند او د مرکزي آسيا هيوادونه شامل دي.

- د هند او مرکزي آسيا له بازارونو څخه د سوداګريزو توکو د ترانزيت او سوداګرۍ ، او همدارنګه د غيرقانوني سوداګرۍ له مينځه وړو لپاره جدي اقداماتو لپاره د دواړو هيوادونو ژمنې.

- زيربنايي پروژې چې د دواړو هيوادونو او په ځانګړي توګه افغانستان کې د ترانزيت ګړندۍ کولو لپاره جدي اړتيا ګ .ل کيږي ترڅو د دې پروژو لپاره جدي اقدام وکړي.

**د افغاستان او پاکستان تر منځ ټرانزيتی لاری:**

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ګډ سرحد په پوله په ۵ ولايتونو کې د ټرانزيت ننلوونکې نقطې لرى چې په لاندې ډول دي

1. په ننګرهار کې د تورخم بندر
2. په خوست ولايت کې د غلام خان بندر
3. د پکتيکا په ولايت کې د انګور اډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. په زابل کې د شملزایي ګمرک
5. په کندهار کې چمن او سپین بولدک

### د ګمرک اقتصادي ارزښت :

ګمرکونه د هیواد د اقتصادي محاذ په توګه په اقتصادي پرمختګ کې مهم او اساسی رول لوبوي او د ټولنې د هوساینې او ساتنې تضمین کوي که چیرې یو هیواد وغواړي چې په اقتصادی، مالی او ټولنیزه برخه کې لاسته راوړنې ولرې نو باید خپل ټول سیاستونه او پروګرامونه د ګمرکونو د ارزښت او لومړیتوب په اساس سره ترتیب کړي، ګمرکونه د هیواد د تجارتی موادو په صادرولو او واردولو کې د ملا تیر حیثیت لری او د هیواد ټول تجارتی مواد د ګمرکونو د لارې یا نورو هیوادونو ته صادریږي او یا هم د نورو هیوادونو څخه هیواد ته واردیږي ګمرک د تجارت او راکړې ورکړې په پرمختګ کې اساسی رول لرې، ټول تجاران او سوداګر د ګمرکونو په واسطه خپل تجارتی توکی د هیواد بازارونو ته عرضه کوی او همدارنګه د هیواد په داخل کې هغه توکې چې د پانګوالو او سوداګرو په واسطه تولیدیږي ددې لارې نورو هیوادونو ته انتقالیږی چې دغه عملیه او پروسه له یوی خوا د حکومت د عوایدو په زیاتیدو او د ملی بودجې په لوړیدو کې مرسته کوی او د بلې خوا خلګو ته ددې لارې د کاروبار د زمینې په برابرولو کې مرسته کولای شی ددې ترڅنګ د هیواد په داخل کې پانګوال دیته لیواله کیږی چې په ګمرکونو کې پانګونه وکړي او تجارت سوداګری ته لاس واچوی.

د زابل ولایت د شملزو ولسوالی د څنځیر په سیمه کې پروت ګمرک چې زابل د پاکستان هیواد بلوچیستان ایالت سره نښلوی د تجارت په غوړیدا او د دولت د ګمرکی عوایدو په لوړیدو کې به اساسی رول ولوبوی یاد ګمرګ چې د سپین بولدک ګمرک په نسبت زابل ته نژدې دی په اسانی او لږ وخت سره تجاران کولای شی خپل توکې د پاکستان هیواد بلوچیستان ایالت څخه زابل ته او یا هم نورو مرکزی ولایتونو ته انتقال کړی او ددې ترڅنګ هغوی کولای شی خپل توکې، وچه او لمده میوه په لږ وخت او کم مصرف او ښه ډول سره د پاکستان هیواد ته صادیر کړی.

ددې ګمرک په جوړیدو سره به دیوی خوا سوداګر وکولای شی چې خپل توکي په اسانی، کم مصرف، لږ وخت او ښه ډول د زابل بازارونو او د مرکزی ولایتونو لویو مارکیټونو ته انتقال کړی، د بلې طرفه به وچه میوه لکه بادام، انځیر، کشمیش، شکرپاره په خپل وخت سره د پاکستان هیواد ته انتقال کړی تر څو د هغه ځایه نورو هیوادونو ته صادر شی او همدارنګه به ددې ولایت لمده میوه لکه انار، انګور خټکی او هندوانې به هم ګاونډي هیواد ته د خرابیدو او د وخت د ضایعه کیدو څخه پرته انتقال شی. ددې ګمرک په مسیر به خصوصی پانګوال زیربناوی جوړی کړی چې ورسره به ګڼ شمیر خلګو ته د کار زمینه برابره شی او یو ګڼ شمیر خلګ به په کار مصروفه شی چې ورسره به یی اقتصادی وضعیت ښه او د فقر کچه به ټیټه شی همدارنګه دغه ګمرک کولای د امنیت په ټینګښت کې مهم رول ولوبوی.

په لنډه توګه د یاد ګمرک ګټی او ارزښت په لاندی ډول سره خلاصه کولای شو:

1. د دولت د عوایدو په لوړیدو او ملی بودجی د کسر په کمیدو کې مرسته کولای شی.
2. د سوداګرو تجارتی توکې په اسانی، لږ وخت، کم مصرف او ښه ډول سره د هیواد بازارنو ته رسیږی.
3. د هیواد په خاص ډول د زابل داخلی تولیدات او کرهنیز محصولات په اسانی، لږ وخت او کم مصرف سره د پاکستان بازارونو ته صادیریږی.
4. هغه مواد چې په قاچاقی او غیر قانونی شکل سره د هیواد بازارونو ته واردیږی او کیفیت یی ټیټ وی د هغو مخنیوی کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. پانګوال او سوداګر په زابل کې پانګونې او تجارت ته زړه ښه کوي او خصوصي سکتور د ولایت په پرمختګ اود اقتصاد په غوړیدا کې ونډه اخلی.
6. د زابل په امنیت باندی مثبت اغیز کوي.
7. د یاد ولایت اقتصاد وسره غوړیږی، خلګو ته د کار زمینه برابریږی او د فقر کچه ورسره ټیټیږی.
8. زابل به د افغانستان مرکزی، شمالی او ختیځې سیمې په مستقیمه توګه د پاکستان سره ونښلوي.
9. د شملزو سړک په مسیر د کاټلی مانده په سیمه کې د صنعتي پارک په جوړیدو سره به د افغانستان کورنی تولیدات پاکستان ته او د خامه موادو واردات افغانستان ته ارزانه او آسانه کړي.
10. د شملزو ګمرک په رسمي کېدو سره افغان سوداګرپه ځانګړې توګه د زابل سوداګر د کندهار سپین بولدک بندر په نسبت په لږ وخت کې تجارتي مالونه زابل او له زابل څخه کابل او شاوخوا سیمو ته رسولی شي.
11. له څو لسیزو را هیسې افغانستان د پاکستانی اموالو لپاره بهترین مصرفي بازار و او د دې لپاره پاکستان کې سلګونه کمپنی جوړې شوي وې چې د افغانستان لپاره اجناس/خدمات وړاندې کړي.
12. د تولیدي کارخونو د ژوندي ساتلو لپاره د مصرفي بازار درلودل اساسي موضوع ده او پاکستان اړ ده چې د خپلو تجارتي مالونو د خرڅلاو لپاره بازار پیدا کړي چې افغانستان ورته بهترین بازار ګڼل کېدای شي.
13. سربېره پردې افغانستان هم د یو شمېر اړتیاوو پوره کولو لپاره په تېره بیا د کرهنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره د پاکستان همکارۍ ته اړتیا لري او دغه صادرات افغانستان کې معمولاً د دریبو تجارتي لارو (سپین بولدک، تورخم او غلام خان بندره) ترسره کېدای شي.
14. اوس چې د شملزو ګمرک د پرانیستلو خبره کېږي نه یواځې سوداګرو ته یوه لنډه لار په لاس ورځي بلکې د نومړې لارې د رسمي ترانزیټ په پایله کې به د دولت خزانې ته هره ورځ میلیونونه افغانی عاید اضافه شي.
15. د نا تاید شویو معلوماتو په اساس د شملزو ګمرک په مسیر اوس هم هره ورځ شوا خوا ۱۰۰ بار وړونکي موټر تګ را تګ کوي.

### د خلکو د ژوند کچې لوړوالی:

د کرښې دواړو غاړو ته خلګ خوشحاله دي چې د دې بندر په پرانیستې سره به دوی ته کاروبار پیدا شي، د شملزو ګمرک د رسمي پرانیستلو او ترانزیټ په پایله کې به د ډیورنډ کرښې دواړو خواوو ته د مېشتو ولسونو کاروبارونه وغوړیږي او د سبزي ترځنګ به د لارې په اوږدو کې هوټلونه، مارکیټونه او نور کاروبارونه جوړ شي چې دا کار به د دوی د کورني اقتصاد په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي چې د کورنیو لپاره به بېلابېلې عایداتي سرچینې رامنځ ته شي چې د عوایدو په لوړېدو سره به د خلکو ژوند کې ښه والی راشي او په سیمه کې به د دایمي امنیت له تامین سره مرسته وکړي د دې ترڅنګ به د کرښې په دواړو خواوو کې د مصرفي توکو قیمتونه ټیټ، فردي سپماوې به زیاتې او د پانګونې د پراختیا سبب به وګرځي پاکستان چې د افغانستان د تازه میوو لپاره یو ښه مارکیټ دی زابلی سوداګر به وکولای شي چې خپلې تازه میوې په کم وخت او کم لګښت سره د پاکستان بازارونو ته ورسوي.

### د شملزو ګمرک دتاسیساتو جوړولو لګښت:

د یو ګمرک د فعاله کولو او رسمي کولو لپاره د لازمو زیربناوو جوړول حتمي او لازمی دي چون دخوست ولایت کې په غلام خان بندر کې د افغانستان حکومت له لوری په دوه سوه جریبه ځمکه کې تاسیسات جوړ شول نو پدی اساسد شملزو ولسوالی په ګمرک کې هم باید ورته تاسیسات جوړ شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زابل د شملزايي ګمرک د سوات تحليل:

| د قوت نقطې: | د ضعف نقطې: |
|---|---|
| • د شملزايي ولسوالي په سرحدي سيمه کې د ګمرک د تاسيساتو جوړولو لپاره د پراخه ځمکې شتون.<br>• د سيمې خلکو او د زابل د سياسي قشر پوره ملاتړ او همکارۍ د ګمرک د فعاله کيدو لپاره.<br>• د شملزايي ګمرک په مسير د زابل مرکز قلات څخه د شنکی تر سره غره پورې ۴۸ کيلومتره سړک کانګريټ دی يواځې ۱۰۳ کيلو متره سړک کانګريت ته اړتيا لرې.<br>• د کندهار د سپين بولدک ټرانزيتي لارې په نسبت د شملزو ګمرک لاره ډيره لنډه ده.<br>• زابل به په مستقيمه توګه د هيواد شمالی، مرکزی او ختيځ ولايتونه د ګاونډي هيواد پاکستان سره و نښلوي. | • د زابل مرکز قلات څخه د شملزو ګمرک تر سرحدي سيمې د سړک حالت خراب دی يواځې ۴۸ کيلومتره سړک د مرکز قلات څخه د شنکی ولسوالی تر سره غره کانګريت دی.<br>• د شملزو ګمرک مسير د امنيت له اړخه خوندي نه دی<br>• د شملزو د ځنځير په سيمه کې هيڅ لازم تاسيسات او زيربناوې شتون نلری.<br>• د شملزو ګمرک سيمه د دولت تر کنټرول لاندې نه ده او ددولت د مخالفينو لخوا کنټروليږي.<br>• د تا سيساتو جوړولو لپاره د کافی بودجې نشتون.<br>• د پاکستان خواته د بادينی، مسلمبې باغ او بلوچستان په سيمو کې د شملزو ګمرک په مسير د لازمو زيربناوو نشتون. |
| **فرصتونه:** | **ننګوني:** |
| • د سيمې د خلکو او زابل دسياسی قشر پوره ملاتړ او همکارۍ.<br>• په کافی اندازه د انسانی سرچينو موجوديت.<br>• د ټرانزيټي لارو د جوړولو لپاره د دولت تمرکز او حمايت.<br>• په افغانستان کې د سولې په منځته راتلو سره د افغانستان او پاکستان د سوداګريزو اړيکو پراختيا.<br>• د پاکستان علاقه چې د افغانستان سره خپلې سوداګريزی اړيکې پراخه کړي او د افغانستان له لارې خپل سوداګرۍ توکي مرکزی آسيا او منځنې ختيځ هيوادونو ته صادر کړي.<br>• د شملزو ګمرک په مسير د کاڼلي مانده په سيمه کې د صنعتی پارک جوړيدل چې له امله به يې د پاکستان څخه په دغه صنعتی پارک کې د داخلی توليداتو د توليد لپاره د خامه موادو واردات آسانه او ارزانه کړي.<br>• د ټاپي پروژې په پلی کيدو سره د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو پراختيا. | • امنيتي ستونزې.<br>• د شملزو په سرحدی سيمه او د لارې په مسير د لازمو تاسيساتو او زير بناوو نشتون.<br>• د تاسيساتو جوړيدو لپاره دافغانستان دامکاناتو او بودجوی محدوديت.<br>• د شملزايي ګمرک په فعاله کيدو سره د کندهار سپين بولدک ټرانزيټي لارې ارزښت کميږي چې له دې امله د کندهار سياسی قشر ممکن ددې ګمرک د فعاله کيدو سره مخالفت وښيي او د فعاله کيدو په لاره کې يې خنډونه جوړکړي. |

### صنعتي پارک:

صنعتي پارک د هغه اقتصادی زون يا ساحې څخه عبارت ده چې د ښاري ستراتيژيک پلان مطابق د اقتصادی ودې لپاره طرح شوي وی او د اړتيا وړ زيربناوی لکه ( داخلی پاخه سړکونه، اوبه، برق، د فاضلابو سيستم، مخابراتی خدمتونه، او نورې د حفظ او مراقبت زيربناوی) او اړتياوی پکې برابرې شوی وی او د توليدی او صنعتی فعاليتونو لپاره ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### په زابل کی صنعتی پارک ته اړتیا او ارزښت یې:

داچې صنعت او تولید د یو هیواد په پرمختګ، بیاروغونه، د کاری فرصتونو په رامنځته کولو او د غربت د کچې په کمولو کې مهم او اساسی رول لری نو دی ټکی ته په کتو سره د صنعتی پارک ، صنعتی او تولیدی فابریکو ارزښت د زابل ولایت په پرمختګ کې خورا مهم او اساسی رول لوبولی شی او کولی شی زابل د نورو ولایتونو  سره د پرمختګ په کتار کې راولی د زابل لپاره د صنعتی پارک د جوړیدو او دلته دتولیدی او صنعتی فابریکو د فعاله کیدو ارزښت په لاندی ډول سره خلاصه کولای شو.

دا چی زابل د ټرانزیت او حمل او نقل  له مخی خورا  مهم ستراتیژیک موقیعت لری او همدارنګه زابل ولایت د تولید لپاره په پراخه پیمانه طبیعی منابع او کافی اندازه سره خام مواد لری او دغه ولایت د طبیعي او معدنی سرچینو د لحاظ د هیواد دغنی ولایاتو په کتار کې شمیرل کیږی مګر متاسفانه تر اوسه په هغه اندازه چې لازمه ده د زابل د اقتصادی او تولیدی ظرفیتونو د تحلیل او څیړنی په برخه کې کار ندی شوی چې تر ډیره یې لامل ناامنی او د مرکزی حکومت نه پاملرنه ده.

 زابل په پراخته پیمانه معدنونه لری چې تر اوسه د یادو معدنونو په هکله هیڅ څیړنه ندی شوی او نه هم په دی برخه کې د اړونده ادارو لخوا کومه سروی ترسره شوی ده چې ددغه معدنونو ارزښت څومره دی او کولای شی چې څومره د یاد ولایت په پرمختګ او اقتصادی وده کې مرسته وکړی ددی تر څنګ زابل د طبیعي سرچینو په برخه کې د اوبو له اړخه لوی او پراخی د اوبو سرچینی لری چې کولای شی د یاد ولایت د کرهنې، مالداری په پرختیا او د برق په تولید کې اساسی رول ولوبوی، زابل دوه لوی سیندونه لری چې یوه د ارغنداب سیند دی او بل د ترنک سیند دی متاسفانه چې تر اوسه د یادو سیندونو د اوبو د ظرفیت او ارزښت په هکله کومه سروی نده ترسره شوی او نه هم په دی هکله کوم ارقام راټول شوی چې په دغه سیندونو باندی د اوبو د بندونو په جوړیدو سره به څو هکتاره ځمکه خړوبه او څو میګا واټه بریښنا به تولید شی دغه هم تر ډیره د ناامنیو، په اړونده ادارو کې د ټیټ ظرفیت او د مرکزی حکومت د کمی پاملرنی په وجه پاتی ده په عمومی ډول سره د طبعی سرچینو، معدنونو او کرهنې اومالداری لحاظه  زابل یو غنی ولایت دی او په دغه ټولو برخو کې په کافی اندازه سرچینی او منابع شته مګر متاسفانه چې تر اوسه په یادو برخو کې هیڅ کار ندی شوی، هغه منابع او سرچینی چې شته د هغو څخه هیڅ ګټه نده اخیستل شوی او نه هم ورته پاملرنه شوی ده دلته تر اوسه یوازی د نورو هیوادونو په منابعو او یا هم د نوور ولایتونو په تولید باندی تکیه شوی، هغو منابعو ته چې زابل او دغه سیمه یی لری په کم ارزښت کتل شوی او ګټه نده ورڅخه اخیستل شوی. زابل د صنعت او تولید په برخه کې ښه ظرفیتونه لری مګر په دی برخه کې کومه پانګونه نده شوی یاد ولایت لوی پانګوال او سوداګر لری او هغوی تر ډیره لیوالتیا لری ترڅو په مختلفو برخو کې پانګونه وکړی ترڅو د ټولنی د غوښتنو او اړتیاوو سره سم توکی تولید او په مناسب قیمت یی بازار ته وړاندی کړی مګر هغه ضروری اسانتیاوی چې باید ورته برابرشوی وای هغه امکانات په لاس کې نه لری او نه هم دولت دی برخی ته پاملرنه کړی ده لکه د صنعتی پارک جوړښت، په یاد پارک کې د لومړنیو امکاناتو او اسانتیاوو اماده کول لکه بریښنا، اوبه، د فاضلابو سیستم،پاخه سړکونه او پانګوالو ته د فابریکی او تولید کارخانی جوړښت لپاره د ځمکی ویش، د حفظ او مراقبت تاسیسات او داسی اوس چې دتاجکستان هیواد وارداتی بریښنا ددی ولایت څخه تیریږی او د یادی بریښنا مزی او پایی زابل ته رسیدلی چې ددی ولایت څخه به نورو ولایتونو ته دغه بریښنا رسول کیږی او د یادی بریښنا یوه برخه به زابل ولایت ته ورکول کیږی چې ددغی بریښنا په فعاله کیدو سره به زابلی پانګوالو ته د پانګونی یو ښه فرصت مساعد شی.

د ټولنی د هوساینی او د ولایت د پرمختګ لپاره به صنعتی او تولیدی فابریکی خورا مهم او اساسی رول ولوبوی ددی صنعتی پارک په جوړیدو او د مخکنیو ذکر شویو توکو د تولیدی فابریکو په فعاله کیدو سره به ددی ولایت زرګونو مسلکی او غیرمسلکی کسانو ته د کار زمینه برابره شی په دندو د افرادو  دګمارنی له امله به په زابل کی د بیوزلی کچه ټیټه، د ګاونډیو او نورو بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیوادونو څخه به د تولیدي توکو واردات کم او په اوږده مهال کی ددی امکان شته چې دا توکی نورو هیوادونو ته صادر شي چې ورسره به د هیواد د تادیاتو بیلانس کم شي ، په دندو د افرادو د گمارنې له امله به د ولایت په امنیت کی ښه والی راشي، کورنی او سیمه ایزه مناقشې به لږ، په مخدره توکو د روږدو کسانو تعداد به راټیټ، د ښځو اقتصادی توانمندی به زیاته شي چې د خلکو د ورځنې عاید په زیاتیدو کې به مرسته وکړي او د غربت کچه به تر یو حده ټیټه شي چې ورسره به یاد ولایت په اقتصادي او ټولنیزه برخه کې پرمختګ کړي.

**تقاضا :-**

په افغانستان کې عموماً په څلورو برخو کې پانگونه کیږی او په یادو برخو کې پاگونی ته خورا زیاته اړتیا لیدل کیږی

۱- کانونه او هغو د را ایستولو په برخه کې پانگونه.

۲- صنعتی کارخانی لکه د بوټونو، چمپلو، پلاستیکی او چینی لوښی، پایپ جوړونه، خوراکی او غیر خوراکی توکی، مشروبات او داسی نور.

۳- برق او اوبه.

۴ – په ودانیزو برخو او د کورونو د جوړولو په برخه کې د پانگونی اړتیا او د خلگو تقاضا.

په زابل ولایت کې د دغه پورته ذکر شویو برخو څخه په یوه برخه کې هم پانگونه نده شوی او دلته اړتیا او دخلگو غوښتنه ده چې په دغه لاندی برخو کې پانگونه وشي.

1 - **ودانیز مواد:** لکه د کچ، رنگ، خښتی، سیخ گول، گاډر، کاشی، سیمنټ، ریگ، ودانیزی او د کورونو زینتی ډبری د ولایت په کچه تر ۲۰۰ زیاتی لویی او کوچنی ودانیزی پروژې چې ددولت ، موسساتو او نورو برنامو له لوری تطبیق کیږی پرته له ریگ او ډبری نور هیڅ ساختمانی مواد په زابل کی نه پیداکیږی نو په دی اساس په زابل کی ددغو توکو د تولید لپاره کافی تقاضا او تش مارکیټ شتون لری که په دغه برخو کې پانگونه وشي د یو طرفه به یاد ولایت د ساختمانی موادو د اړخه د خلگو تقاضا پوره کړی او د بله طرفه به یاد مواد په ښه کیفیت او مناسب قیمت په خپل وخت سره د غوښتونکو په واک کې ورکړل شي چې له یوی خوا به د خلگو غوښتنو ته ځواب وویل شي او بل به خلگو ته د کار زمینه برابره شي، همدارنگه به یو څه اندازه عواید دولت ته په لاس ورشي چې دغه ټول د فقر د سحطې په ټیټولو، د کاری فرصتونو په پیداکولو، د اقتصاد په وده او د هیواد په پرمختګ کې ډیره مهم او ارزښت لرونکی رول لری.

۲- **زیربنا او کور جوړونه:**

د نورو کلونو په نسبت په زابل کی د ښارنشینه یعنی ښار کی د اوسیدو کچه زیاته ده ډیری خلگ غواړی چې په ښار کې ژوند وکړي او دلته کاروبار پیل کړی ددی ترڅنگ یو زیات شمیر خلگ چې د گاونډیو هیوادونو څخه راستانه شوی او د زابل په مرکز قلات کی میشت شویدی او د ډیر شمیر گډوالو اقتصادی وضیعت نسبتآ ښه دی او غواړی چې په مرکز قلات کی زیربناوی جوړوی او یا هم کورونو او د کاروبار لپاره لویو مارکیټونو او دوکانو ته اړتیا لری چې د رهایشی ښارگوټو، پلازا، مارکیټونو په برخه د پانگونی ډیر پراخ فرصتونه شته، دخلگو د غوښتنې په اندازه پاخه او اساسی کورونه شته او نه هم سوداگریز مارکیټونه شته په دی برخه کې د پانگونی په کولو سره به خلکو ته د کار زمینه پیداشی اوهم به پانگوال خپله سرمایه په کار واچوی او گټه به تر لاسه کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- خوراکی او غیر خوراکی توکی، دوا او درمل:**

په زابل ولایت کې تر اوسه د خوراکي توکو په برخه کې په کمه اندازه پانگونه شوی، ډېری خوراکي او غیر خوراکی توکې د نورو ولایتونو څخه واردیږی، دلته یادو توکو ته تقاضا لوړه ده که په دغه برخه کې په لړ اندازه سره پانگونه وشی نو د خلگو غوښتونو ته تر یو حده ځواب ویلی شی او د کاری زمینی په برابرولو کې هم مرسته کولی شی.

همدارنگه زابل ته ټول زینتی توکې د نورو هیوادو او گاونډیو ولایاتو څخه راوړل کیږی که هغه د پوښاک جامی دی یا بوټونه او څپلی وی او یاد هم د کورونو نور د ضرورت توکی دی لکه لوښی، پلاستیکی خریطی او داسی نور... که په یادو برخو کې په ابتدایی توگه هم پانگونه وشی تر یو حده د خلگو غوښتونو ته ځواب ویلی شی.

ددی ترڅنگ په یاد ولایت کې ټوله استعمالیدونکی دوا، درمل که انسانی ده یا حیوانی او یا هم نباتی ټوله د نورو هیوادونو څخه واردیږی په دی برخه کې د پانگونی ښه او پراخ فرصتونه شته چې کولای شی یاد ولایت ته پرمختگ ورکړی او اقتصاد یی ورسره وغوړیږی.

**خدمات :**

په زابل کی د خدماتو په برخه کی د پانگونی کافی فرصتونه او ظرفیتونه شتون لری خو بدبختانه پدی برخه کی هیڅ پانگونه نده شوی په ټولو برخو کی لکه انترنیت او مخابراتی خدمات لوژستیکی خدمات ، د زراعتی محصولاتو بسته بندی ، د رستورانت او هوټل خدمات ، ترانسپورتی او سیاحتی خدمات او داسی نور. د خدماتو د وړاندی کولو کیفیت ډیر ټیټ او خلک تری رضایت نه لری.

**پوهنه او لوړی زده کړی:**

په زابل ولایت کې اوس یوازی څلور خصوصی ابتداییه او متوسطه ښوونځي فعاله شوی، د لوړو زده کړو کوم خصوصی پوهنتون او یا هم انستیتوت شتون نه لری تر څو هغه ځوانان چې دولتی پوهنتون ته نشی بریالی کیدلی او یا هم د کورنیو ستونزو له امله نشی کولای د لوړو زده کړو لپاره نورو ولایاتو ته ولاړشی زده کړی پکی وکړی که د پوهنی او لوړو زده کړو په برخه کې پانگونه وشی او یاد ښوونیز مرکزونه په ښه او لوړ کیفیت سره خدمات وړاندی کړی نو ډیری ځوانان به ورته ورشی او خپلی زده کړی به پکی وکړی.

**مخابراتی او انټرنیټی خدمات :**

په زابل ولایت کی د Wi-Fi او کیبل انټرنیټی خدمات یوازی په مرکز قلات کی د یو شمیر دولتی ادارو پوری محدود دی کورنی شرکتونه، موسسات او نوری اداری د خصوصی انټرنیټ Wi-Fi خدماتو څخه استفاده نه کوی او نه هم په دی برخه کی خصوصی شرکتونه شته چی په کورنیو ، ادارو او مارکیټونو ته انټرنیټ ورکړی، د زابل په ډیرو لریو پرتو ولسوالیو کی لکه میزانه، ارغنداب، دایچوپان، اطغر ، شملزایی ، نوبهار کاکړ ولسوالیو کی مخابراتی خدمات صفر دی یوازی د لویو غرونو او تپو په څوکو کی مخابراتی خدمات کار کوی نو په دی اساس په دغو ولسوالیو کی مخابراتی خدماتو ته لاسرسی، د مخابراتی خدماتو نه استفاده او همدارنگه د انټرنیټ استعمال ډیرکم دی که موجوده مخابراتی شبکې دغو ولسوالیو ته خپل خدمات و غځوی هم به خلک مخابراتی خدماتو ته لاسرسی ومومی، د ۱۰ فیصده مالیی له لاری به د دولت عواید زیات شی مخابراتی شبکی به مفاد تر لاسه کړی په ولسوالیو کی به د اداری خدماتو کیفیت ښه شی، د مکاتبو ، هدایاتو ، احکامو لیږد به په الکترونیکی بڼه هم ترسره شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زابل د زراعتی محصولاتو ظرفیت:

زابل د موقیعت له لحاظه د هیواد شمالی، مرکزی او ختیځې سیمې د هیواد د لویدیځو او سهیلي سیمو سره وصلوي همدارنګه د زابل ولایت د شملزایي په ولسوالی کې 64کیلومتره ګډه پوله د پاکستان هیواد سره لری ددې موقیعت له امله د شملزایی ګمرک دځانګړی اقتصادی ارزښت لرونکی دی.

زابل هم په نسبی توګه د هیواد د زراعتی ولایتونو له جملې څخه دی چې ۲۱۱۴۵۷ هکتاره زراعتی ځمکې لری چې 6200 هکتاره آبی ځمکې، 9000 هکتاره للمي ځمکې، 2900 هکتاره میوره لرونکې ونې،2000 هکتاره ځنګلات تشکیلوی او پاتې نوریې هم تاکستانونه، وچې ځمکې د اوبو او واورو تر پوښښ لاندې سیمې تشکیلوی.

ددې ولایت ډیری ولسوالی مناسبه آب وهوا(اقلیم)، په کافی اندازه اوبه او حاصلخیزې ځمکې لری چې دمختلفو زراعتی محصولاتو، میوه لرونکو ونو او حیواناتو درروزنې لپاره مناسب دی چې د غذایی خوندیتوب،کاری بوختیا( اشتغال زایی) ، دفقر کموالی او دخلکو د ژوند دسطحې په ښه کولو کې مهم رول لری. د ۲۰۱٦-۲۰۱۷ کال  دافغانستان دخلکو دژوند د وضیعت د سروی د ارقامو په اساس د زابل ولایت د 80-85 سلنه کاری ځواک د کرهنې په سکتور کې په کار بوخت دی له دی امله زابل ولایت یو مهم زراعتی، ترانزیتی او سوداګریز ولایت دی همدارنګه د زراعت او کرهنې په برخه کې مهم رول لوبوي.

د زابل ولایت په سیمه ایزه او ملی کچه سوداګر لری چې په وارداتو او صادراتو او همدارنګه په کندهار او هرات کې لویی فابریکې لری چې دا پخپله د خصوصی سکتور د ودې لپاره یو مهم مزیت دی که په دې ولایت کې ورته د سرمایه ګذاری فرصتونه برابر شی په دې ولایت کې به لویی د پروسس، تولید، بسته بندی او خدماتو فابریکې جوړې کړی.

**د زابل ولایت کرهنیزه ځمکه د ولسوالیو په تفکیک سره :**

| شماره | د ځای نوم | د ځمکی ډول | د کرنی موسومونه | سیمه په هکتار | سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | مرکز قلات | زراعتی | پسرلنی | ۱۲۸۵۲ | |
| ۲ | شاجوی | زراعتی | // | ۸۸۹۲ | |
| ۳ | شهر صفا | زراعتی | // | ۹۰۰۰ | |
| ۴ | شنکی | زراعتی | // | ۳۵۹۰ | |
| ۵ | سیوری | زراعتی | // | ۲۵۸۱ | |
| ٦ | ارغنداب | زراعتی | // | ۵۲٦۰ | |
| ۷ | نوبهار | زراعتی | // | ۲۹۷۰ | |
| ۸ | شملزایی | زراعتی | // | ۳۱۵۰ | |
| ۹ | اطغر | زراعتی | // | ۳۱۹۲ | |
| ۱۰ | کاکړان(خاک افغان) | زراعتی | // | ۳۲۰۰ | |
| ۱۱ | میزانه | زراعتی | // | ۳۹۸۱ | |
| ټولټال | | | | ٦۲۰۰۰ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

خروبېږ کرهنيزې ځمکې(خروبېږ، للمې)او ظرفيت د هکتار پر بنسټ:

| شماره | د ځمکې ډول | سيمه په هکتار | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کرهني وړ ځمکې عمومي ساحه | ۰ | |
| ۲ | د کرهنی وړ ځمکه ( ابی ځمکه) | ٦٢۰۰۰ | |
| ۳ | دځړځايونواوچمن زارونوځمکه | ۵۰۰۰ | |
| ۴ | تاکستانونه | ۱۵۰۲۵ | |
| ۵ | د ميوه دارو باغونه | ۲۹۰۰۰ | |
| ٦ | طبيعی ځنگلونه | ۲۰۰۰ | |
| ۷ | للمی | ۹۰۰۰۰ | |
| ۸ | غير کرنيزه ځمکه | ۸۴۳۲ | |
| ۹ | د سيندونو غاړې | ۰ | |
| ټولټال | | ۲۱۱۴۵۷ | |

## د زابل ولايت د مهمو زراعتی محصولاتو پیژندنه او ظرفیت:

**بادام:**

د زابل د اوبو او هوا (اقليم) سره د بادامو توافق دا محصول د زراعت په برخه کې يو استراتيژيک نبات جوړ کړی چې دعوايد په رامنځته کولو، اشتغال، اقتصادي ودې او دفقر دکچې په کمولو کې مهم رول لري.

دموجوده معلوماتو پر اساس چې دزراعت او مالداری رياست، معتبرو انترنيتي سايټونو او ددې ولايت د اوسيدونکو څخه ترلاسه شوی دی ددې ولايت زياتره برخه د بادامو په کښت پوښل شوی ده چې شاوخوا 12000 هکتاره ځمکه يې پوښلې ده چې په کلنی توگه 24888 ټنه حاصلات په لاس ترې را ځي.

په دې اساس د بادامو دحاصلاتو د ښه والی لپاره هڅې کيږي تر څو د دهقانانو د ژوند وضيعت، اسباب او وسايل، دمناسب چاپيريال برابرول،او دملاتړ او هڅونې کچې ته ښه والی ور وبخښل شی تر څو د کميت او کيفيت له لحاظه د بادامو په حاصلاتو کې ښه والی رشی.

د زابل ولايت د موجوده زراعتی محصولاتو دښې استفادې او دخلکو د زراعتی عوايدو د زياتوالی لپاره زابل ولايت د بادامو د پروسس کارخانه چې د ۳ متريک ټن ورځنی ظرفيت سره چې د بادامو د حاصلاتو په زياتوالی کې به رغنده رول ولری ضرورت لری ددهقانانو دعوايدو د زياتوالی نه علاوه به په کافی اندازی کاری فرصتونه د نارينه او ښځينه وو لپاره ايجاد کړی چې ممکن شاوخوا 53000 کسانو ته دکار زمينه برابره کړی او د بادامو محصولاتو د بازارموندنې لپاره د نمايشگاوو تر سره کول، معياری پلور د مرکزونو جوړول، د مشتريانو د جذب لپاره د ولاياتو ترمنځ د سوداگريزو اړيکو رامنځته کول او دبادامو دمحصولاتو د زياتوالی لپاره دزياتي پانگونې د جذب زمينه برابرول اړين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زابل ولایت د میوه لرونکو ونو باغونه په سنتي بڼه جوړ شوي په اوسطه توګه یو باغ د ۸۰-۱۰۰ ونو د ۵/۴ متره فاصله کې لري د زراعت ریاست د معلوماتو په اساس که ددې ولایت د باغداری سیستم حمایت شي او حاصلات یی و پیرل شی ددې امکان لری چې د بادامو د حاصلاتو د پلور څخه ترلاسه شوی عواید د ولایت د پراختیا، امنیت، د بیوزلی کمولو او کار پیداکونه کې به ډیراغیزمن تمام شی.

په زابل کې له ۸ نوعو څخه ډیر بادام حاصلیږي چې مشهوری نوعی یی ننپریل، کارمل، عبدالواحدی کاغذی، عبدالواحدی سنگگ، کف مال محلی اول، کف مال محلی دوم او محلی سنګګ دی چې قیمت ترینه یی ستاربایی کاغذی او پسته یی او ارزان ترینه یی محلی سنګګ دی.

**کلنی د تولید ظرفیت:**

د زابل شاوخوا 12000 هکتاره ځمکه د بادامو په کښت پوښل شوې ده چې د زراعت ریاست د معلوماتو په اساس د کلنیو حاصلاتو منځنی مقدار یی 24888 ټنه ښوودل شی او په روان 1399 ه ش کال کې د یوټن محلی سنګګ(کتپي) بادامو قیمت 80000 افغانۍ دی چې په کلنی توکه 1،943،040،000 افغانۍ عواید د بادامو له پلور څخه په لاس راځي چې متاسفانه دغه مبلغ دنورو ولایاتو په عوایدو کې حساب کیږي او په ډیره کمه اندازه د مزد په ډول پیسې ددې ولایت د وګړو جیبونو ته رسیږي.

ددې نبات د پروسس، ساتنې، بسته بندی، قوریه داری، بازار موندنې او پلور په برخه کې هیڅ نوعه اساسی اقدامات نه دی ترسره شوی او تر اوسه د بادامو کرل، ساتنه ، دحاصلاتو را جمع کول او پلورل په سنتی شکل ترسره کیږي.

**2. انځیر:**

انځیر هم ددې ولایت د مهمو زراعتی محصولاتو څخه شمیرل کیږي ددې ولایت په شاه جوی، میزانه او شهرصفا ولسوالیو کې خلګ د انځیرو په باغداری بوخت دي، د زراعت او مالداری ریاست د ارقامو په اساس ددې ولایت (۲۰۰) هکتاره ځمکه انځیرو پوښلې ده چې په کلنی توګه ورڅخه (۲۸۰۵۳) تنه عواید په لاس را ځي.

په زابل کې دري (۳) ډوله انځیر شته چې عبارت دي له:سپین کاغذي انځر، تور انځر اوسره انځر.

په ۱۳۹۹ ه ش کال کې د یو کندهاري من چې د 4.375 کیلو ګرام سره برابر دی ټیټ ترینه قیمت 300 افغانۍ، د منځنی کیفیت لرونکو انځیرو من 1100 افغانۍ او د عالی ترینه انځیرو قیمت 2050 افغانۍ دی په دې ډول محاسبې سره د یو کندهاری من منځنی قیمت 1150 افغانۍ کیږي او دیو ټن قیمت 262857 افغانۍ کیږي په دې ډول د 28053 ټنو څخه په کلنی توګه 7،373،931،428 افغانۍ عواید ترلاسه کیږي.

متاسفانه د انځیرو د خوندي ساتلو، بسته بندی د مواصلاتي لارو د خراب وضیعت او پروسس د مراکزو د نشتون له امله یواځې د انځیرو د پلور له لاری یوه کمه اندازه عواید د زابل دهقانانو او سوداګرو ته په لاس ورځي په دې بنا د زابل ولایت د انځیرو د حاصلاتو د زیاتوالی لپاره هڅې کیږي چې ددهقانانو د ژوند وضیعت ښه شی، د انځیرو د باغداری، پروسس او ساتلو لپاره اسباب او وسایل، د مناسب چاپیریال برابرول او د انځیرو دمحصولاتو نه ملاتړ او تشویق ته بهبود ورکول ترڅو د کمیت او کیفیت له لحاظه د انځیرو په حاصلاتو کې مثبت تغیرات رامنځته شی .

په ضمن کې د خصوصی پانګونې د فرصت برابرولو په صورت کې د انځیرو حاصلات کولای شی د محصولاتو د پروسس له لارې (ارزش زنجیره )د محصولات په ارزښت کې د زیاتوالی له طریقه یو زیات شمیر خلکو ته دکار برابر زمینه برابره کړی ځکه انځیر کولای شی په عادې شکل، د مربا او وچو انځیرو په ډول په فروش ورسیږي.

د زراعتی محصولاتو د اغیزمنې استفادې په موخه باید په زابل ولایت کې د زراعتی محصولاتو د پروسس فابریکې جوړی شی چې هم دزراعتي محصولاتو په زیاتوالی کې رغنده رول ولری او هم په کافی اندازه کاری فرصتونه رامنځته کړی، د انځیرو د محصولاتو د بازارموندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره باید د انځیرو نندارتونونه جوړ شي او همدارنګه د پلور د مرکزونو جوړېدل او دولایاتو ترمنځ د مشتریانو د جذب په منظورد د سوداګریزو اړیکو پراختیا په نظر کې ونیول شي.

### 3. انګور:

د زابل د اقلیم سره دانګورو دتوافق له امله انګور د زراعت په سکتور کې دوهم استراتیژیک نبات دی چې د عوایدو په رامنځته کولو، کاری بوختیا، اقتصادی ودې او دفقر دکچې په کمولو کې مهم رول لری .

په زابل ولایت کې دوولس (۱۲) ډوله انګور مروج دي چې عبارت دي له: (ګردګ، سندوخاني، آئیته، توریان، شیخ علي، سرکشمش، قلمک ،سره سابي ،ټانډیان ،خیر رحمان ،لعل او روچه) چې له یادو انګورو څخه په تازه او وچ شکل (کشمش/وځکي) ګټه اخیستل کېږي د زابل ولایت څخه هر کال په اوسط ډول ۵۰٦۳۴ ټنه انګور دافغانستان نورو ولایتونو د ښلګې په توګه:غزني،کابل،کندهار او ان بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي؛ خو له بده مرغه چې تر اوسه پورې په زابل ولایت کې د یادو محصولاتو لپاره معیاري مارکیټ نشته نو له همدې امله په ډېره کمه بیه هم پلورل کېږي چې دغې چارې که له یوې خوا د دهقانانو په اقتصادي وضعیت منفي اغېزه کړې نو له بلې خوا یې د یاد ولایت عایداتي کچه هم راټیټه کړې ده.

دهغه معلوماتو په اساس چې د زراعت او مالداری ریاست، معتبرو انترنیتي سایټونو او ددې ولایت له خلکو نه ترلاسه شوی ددې ولایت زیاته برخه دانګورو باغونو پوښلې ده چې ( 15000) هکتاره ځمکه یې احتوا کړې ده او په کلنی توګه 62500 ټنه حاصل ورکوي چې 15625 ټنه کشمش ترې جوړیږي په اوسط ډول د یو ټن کشمشو قیمت ( 160000 ) افغانی دی په دې حساب په کلنی توګه (2،500،000،000) عواید دانګورو د پلور له طریقه لاسته راځي. د انګورو دحاصلاتو د ښه والی په منظور هڅې کیږي ترڅو ددهقانانو دژوند وضیعت ښه شی، هغوی ته د نوی عصر او ټیکنالوژی سره سم کرهنیز وسایل او ماشین الات اماده شی او همدارنګه زراعت په ډګر کې بلخصوص د انګورو په برخه کې بزګران د نویو علمی او تخنیکی چاپیریال بلد کړی او په دی برخه کې د هغوی د پوهی سطحه لوړه کړی ددی سره په څنګ کې دانګورو دحاصلاتو د حمایت او هڅونې کچې ته بهبود وربښل شی ترڅو دکمیت او کیفیت له لحاظه د انګورو حاصلات ښه شی.

په ضمن کې د خصوصی سکتور د پانګونې او علاقمندی په صورت کې د انګورو محصولاتو ته په اسانی سره زنجیره یی ارزش ورکولای شو یعنی انګور په جوسو، کشمشو او داسی نورو حلالو تولیداتو بدلولی او خرڅولی شو چې په دې کار سره به یو زیات شمیر خلکوته دکار زمینه برابره شی.

دانګورو د محصولاتو دښې استفادې او د زراعتی عوایدو دزیاتوالی لپاره باید په زابل کې د انګورو د پروسس کارخانه چې په ورځ کې د (۳) متریک ټن انګورو د پروسس او بسته بندی ظرفیت ولری جوړه شی په دې سره به نه یواځې د انګورو زراعتي محصولات زیات شی بلکې شاوخوا (۵۳۰۰۰) کسانو ته به دکار زمینه هم برابره شی او په ضمن کې د انګورو د حاصلاتو دبازارموندې لپاره باید نمایشګاه ، د پلور د مرکزونو جوړول، دمشتریانو دجذب لپاره د ولایاتو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو رامنځته کول په نظر کې ونیول شي.

### 4. پسته:

د زابل په نوبهار، سیوری، شنکی او ارغنداب ولسوالیو کې د پستې نیالګیو ښه نتیجه ورکړې ده چې د زابل د وچې میوې د سوداګرو په وینا ددې ولسوالیو څخه په منځنی توګه د کال 6000 ټنه پسته بازار ته د پلور لپاره راځي، په منځنی ډول د یو کابلی من پستې قیمت 3500 افغانی او په ترتیب د یو ټن قیمت 500150 افغانی کیږي چې د 6000 ټنو مجموعی قیمت دری ملیارده 3000000000 کیږي.

### 5. انار

انار د زابل ولایت یو د مهمو زراعتی او کرهنیزو محصولاتو څخه شمیرل کیږی چې ددی ولایت په میزانه، شهرصفا او شینکی ولسوالیو کې د انارو روزنه کیږی او حاصل ورڅخه ترلاسه کیږی.

زابل ولایت کې دوه ډوله انار مروج دي، چې عبارت دي له :کاټي او کاغذی انارو څخه، له یادو انارو څخه په تازه شکل او دمشروباتو په جوړولوکې ګټه اخیستلی کېږي د هغو معلوماتو پربنسټ چې د زراعت ریاست او انټرنیټي سایټونو څخه تر لاسه شوی ددی ولایت په یادو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسواليو کې د ( 500 ) هکتاره ځمکه د انارو د ونو په واسطه پوښل شوی ده چې په اوسط ډول  سره په کال کې (7000) ټنه انار ورڅخه ترلاسه کیږی، دیو ټن انارو اوسط قیمت 28570 افغانۍ کیږي  په اوسط ډول په کال کې د (200) میلیونه افغانیو په اندازه عواید ورڅخه ترلاسه کیږی چې دغه  ددی ولایت لپاره د انارو د محصول  څخه یو لوی ترلاسه کیدونکی  رقم دی، که څه هم اوس ددی زابل انار په مستقیم ډول د کندهار ولایت په نامه د هیواد څخه بهر ته صادریږی که چیرته ددی ولایت د انارو د حاصلاتو د کیفیت او کمیت د حالت د ښووالي او لوړولو لپاره د اسبابو، وسایلو او بزگرانو د وضعیت لوړولو لپاره پروگرامونه جوړ او د بزگرانو د تشویق او محصولاتو لپاره مناسب بازار برابر شی او ددی سره په خوا کې  خصوصی سکتور د انارو په برخه پانگونی تشویق کړل شی او هغوی په دی برخه کې پانگونه وکړی نو کولای شو چې ددغه محصول څخه د یو بهترین محصلاتی ځنځیر په توگه د هیواد په سطحه خلکو ته د کار د زمینی برابرولو په توگه گټه واخلو او ددی لاری ډیرو خلگو ته د کار زمینه مساعده کړو.

ددی لپاره چې د زابل ولایت د انارو د محصول څخه ښه او پرځای گټه واخیستل شي او دغه محصول نور هم پراخ شی او د بزگرانو د عوایدو د زیاتیدو سبب شی نو باید دلته د انارو د پروسس او بسته بندی یوه فابریکه جوړه شی چې حداقل  په یوه ورځ کې د (10)متریک  ټنه انارو د پروسس او بسته بنید ظرفیت ولری چې په دی سره کولای شو ډیرو نارینه او ښځینه وو ته د کار زمینه برابره کړو دغه چاره به  چې لږ تر لږه ( ۵۰۰۰۰ )کسانو ته کار پیداکړی.

### د زراعتی محصولاتو لپاره د بازار تحلیل:

د زابل ولایت په یوه ستراتیژیکه سیمه او لویه ټرانزیتي لاره د کابل - کندهار په عمومی شهرا موقعیت لري  چې دهیواد سهیل ، لویدیز او سهیل لویدیز   ولایتونه د مرکزی، شمالي او ختیځو ولایتونو سره نښلوي.

د ولایت ستراتیژیک موقعیت ته په پام کې نیولو سره زابل خپل زراعتي محصولات د هیواد هر ولایت ته استولی شي او همدارنگه د افغانستان د نورو مرکز ولایتونو ډیرې وچې او تازه میوې گاونډي هیواد پاکستان ته ددی ولایت د شملزو  گمرک د لارې چې ددی ولسوالی په ځنځیر سیمه کې پروت ده او د پاکستان هیواد سره ګډ سرحد او رسمي گمرک لري  ددی لارې به په اسانۍ سره د زراعتی محصولات پاکستان ته چې د افغانستان د وچو او تازه میوو لپاره بهترینه مارکیټ دی دی صادر شي.

په لومړي سرکې د زابل زراعتی محصولاتو ته پاملرنه او بازارموندنه به د دې ولایت خلکو ته د کار او ژوند چاپېریال برابر کړي او پانگوونه به راجلب کړي او لدی سره په څنگ کې به د نورو ولایتونو سره هم سوداگریزې اړیکې پراخه کړي.

د پانگوونې د اډو چمتو کولو په صورت کې (د صنعتي پارکونو رامینځته کول، د پروسس  او بسته بندی مرکزونه را منځته کول ، د پلور مرکزونه رامینځته کول، د سوداگرو او بزگرانو لپاره د پور اسانتیاوې چمتو کول، کاري چاپیریال رامینځته کول او د خلکو د پیرلو ځواک ښه کول) دغه محصولات به نه یوازې ددې ولایت نور اقتصادي پوتانشیل له بحران څخه راوباسي او ددی سره په څنگ کې به یو رغنده اقتصادي تحریک هم ولري.

د زابل بزگران او باغوانان خپل محصولات په خورا سختۍ سره راټولوي، سیمه ایز سوداگر دغه محصولات د اسانه پلور لپاره په سیمه ایزو کورونو او گدامونو کې ساتي ځکه چې  د امنیتی گواښونو، جنگونو او د سړکونو او لارو د خرابوالي له مله  باغونو او کروند گرو ته لاسرسی ستونزمن ده له همدې امله ځایی سوداگر د ځنډ سره د بزگرانو څخه بادام اخلي او د ولسوالی مرکزونو ته یې لیږدوي او بیا یې د قلات د لاریو پواسطه راوړل کیږی او بیا په کندهار او کابل کې د ملی سوداگرو لخوا پیرل کیږي.

په محلی کچه په زابل ولایت د وچې او لندی میوی د استعمال او گټه اخیستنی کچه د خلکو په پیرودلو او کارولو پورې اړه لري چې دخلکو د عاید اندازی  او د زراعتی محصولاتو نرخ ته په کتو سره یی دلته  گټه اخستنی اندازه ټیټه ده.

د بانکونو او مالي نهادونو څخه د پور اخیستنې او ترلاسه کولو  اسانتیاوی کولی شي د پلور، پلور کیفیت او بسته کولو کچې ته وده ورکړي مگر بدبختانه دا اسانتیا په زابل ولایت کې د سوداگرو لپاره شتون نلري او نشي کولی فرعي پورونه وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نتیجه گیری:

په زابل ولایت کې د ډېرى خلکو اقتصاد او د ژوند دوره پدې پورې اړه لري چې ځنګه هغوی خپله کرهڼه او مالداري کاروی او هره کورنۍ له نارینه ځخه تر میرمنو پورې په کرهڼه او مالدارۍ بوخته ده نو د دې سکتور فعالول به نه یوازې د ملي او محلي عاید کچه لوړه کړي بلکه دا ځمکه به هیر شوی ستراتیژیو را ژوندی او ټولنه به صحي کړي.

د ګاونډیو ولایتونو په پرتله پدې ولایت کې پراخې سیمې د بادامو، انځیرو او انګورو د پواسطه پوښل شوی چې د دولت خزانې کې زیرمه کیدی شي که چیرې د عاید مرکزي کولو ته پاملرنه وشي او په ورته وخت کې د دې ولایت خلکو لپاره کاري شرایط چمتو شي.

په اوسني وخت د زابل د ۵ مهمو زراعتي محصولاتو د پلور ځخه د ټولو ستونزو سره سره په کال کې 15 ملیارده افغانۍ عواید ترلاسه کیږي او تر هر سکتور زیات په دې سکتور کې خلکو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

| شماره | د محصول نوم | کر هنیزه سیمه په هکتار | کلني حاصل په ټن | د یو ټن محصول قیمت | ټو ټل کلنی عواید |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | بادام | 12000 | 24888 | 80،000 | 1،943،040،000 |
| 2 | انګور | 15000 | 62500 | 160000 | 2،500،000،000 |
| 3 | انځیر | 28053 | 28053 | 262857 | 7،373،931،428 |
| 4 | انار | 500 | 7000 | 28570 | 200،000،000 |
| 5 | پسته | | 6000 | 250000 | 3،500،000،000 |
| ټوټل | | | | | 15،016،971،428 |

## د تازه میوو د برخې کرهنیز محصولات :

### تازه میوی:

ځینی هغه مهمې تازه میوی چې ددی زابل ولایت د خلګو د اقتصادی ژوند په وده کې اساسی رول لوبولی شی او کولای شی چې ددی ولایت د خلګو بلخصوص د بزګرانو او د ټولنی د هغه طبقې چې په ټیټه سطحه کې ژوند کوی د هغوی د ژوندانه د سطحی په لوړیدو او د غربت او فقر په کمیدو کې مرسته کولا شی په اړه یی معلومات په لنډ ډول دلته وړاندی کوو.

زابل ولایت په پراخه پیمانه تازه میوی لری چې ددی ولایت د خلګو د تقاضا د پوره کیدو تر څنګ نورو ولایاتو ته هم صادریږی، زابل یوازی دوه فصله محصولات لری چې پکی تازه میوی کیږی ددی ولایت د مشهورو میوو د جملې هغه میوی چې په پراخه پیمانه پیداکیږی، انار، زدالو، منه، ختکی، هندوانی، انګور او شفتالو دی چې ددی ولایت تر څنګ نورو ولایاتو ته صادریږی د یادو میوو د جملی ځخه انار هغه مشهوره تازه میوه ده چې د هیواد په داخل او بهرنیو هیوادونو کې زیات شهرت لری او د نړی نورو هیوادونو ته هم صادریږی.

**انار:** انار هغه تازه او مشهوره میوه ده چې تر ډیره د افغانستان په کندهار او زابل ولایتونو کې حاصل ورکوی او دلته زیاته میوه تولیدوی په زابل کې اناره تر ډیره د میزانی په ولسوالی کې شته او ددی ترځنګ په ترنک او جلدک (شهرصفا) ولسوالی کې هم شته یاده میوه چې په اوسنی وخت کې د هیواد په داخل او د هیواد ځخه بهر په نورو هیوادو کې ښه او پراخ بازار لری د زابل ولایت د کرهنیزی ځمکې (500) هکتاره یی پوښلی ده او په کلنی ډول سره د (700) ټنه په شاوخوا کې حاصل ورځخه ترلاسه کیږی چې د یاد محصول په اړه پورته مفصل معلومات وړاندی شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زردالو:** زردالو یو د هغو زراعتی محصولاتو د جملې څخه دی چې د هیوادو په ټولو ولایاتو کې حاصل ورکوی مگر بیا هم په هغه اندازه سره د زردالو حاصلات ندی چې د ټول هیواد د وګړو تقاضا پوره کړې او د هیواد څخه بهر ته صادر شی لکه د نورو میوو په شان په زابل ولایت کې زردالو په دوه شکله سره شته یوه هغه ده چې کورنی یی د خپل ځان لپاره ونی کښینوی او د میوی څخه یی ګټه اخلی اوبل هغه دی چې د پلور لپاره کښینول کیږی او میوه یی بازار ته د پلور لپاره راوړل کیږی او په بازار کې د تازه میوی په شکل سره پلورل کیږی ددی تر څنګ  وچیږی او د وچی میوی په ډول سره پلورل کیږی چې وچه میوه یی د هیواد نورو ښارونو ته د خرڅلاو لپاره وړل کیږی او تر ډیره حده ښه مارکیټ هم لری د زابل لایت د کرهنیزی ځمکه (۳۰۵۰) هکتاره ځمکه د زردالو په نهالګیو سره پوښل شوی ده چې په تخمینی ډول سره په کال کې ورڅخه د (۱۱٦۰۰) ټنه په اندازه حاصل تر لاسه کیږی چې په تخمینی شکل د زابل بزګران په کال کې د زردلو د پلور د لاری (۳۰۳۹۲۰۰۰۰) میلیونه افغانی عاید تر لاسه کوی، زردالو د زابل په ټولو ولسوالیو کې حاصل ورکوی مگر په زیاته پیمانه د شهر صفا، شاجوی او شینکی ولسوالی زردالو مرکز قلات ته د پلور لپاره راوړل کیږی.

**منه:** زابل کې د نورو تازه میوو تر څنګ په یخو او سړو سیمو کې منه هم ښه حاصل ورکوی او د منې په موسم کې تر ډیره حده د ددی ولایت د خلګو تقاضا پوره کوی. منې تر ډیره د زابل په شاجوی، دایچوبان، ارغنداب او سیوری ولسوالی کې ښه حاصل ورکوی او دیادو ولسوالیو د منو حاصلات  مرکز قلات ته د پلور لپاره راوړل کیږی. په زابل کې د (٦۰) هکتاره په شاوخوا کې ځمکه د منو د ونو پواسطه پوښل شوی ده چې په کلنې ډول ورڅخه د (۱۰۰۰) ټنه په اندازه حاصلات تر لاسه کیږی چې یو ډیر ټیټ رقم دی د زابل هوا ته په کتو سره چې دلته د ډیرو سیمو آب هوا د منو د حاصل ورکولو لپاره ښه او مناسبه ده مگر دلته په کمه اندازه منو حاصلاتو ته پاملرنه شوی او همدارنګه تر ډیره حده هغه نهالګی چې ددی سیمی د آب هوا سر تطابق لری ندی روزل شوی څکه یی حاصلات کم او لږه ځمکه د منو د ونو پواسطه پوښل شوی ده.

### هندوانه او خټکی:

په زابل کې د نورو تازه میوو تر څنګ هندوانې او خټکی هم کرل کیږی او ښه حاصل ورکوی مگر په هغه اندازه ندی چې په ټولو موسمو کې ددی ولایت د خلګو تقاضا پوره کړی او نورو ولایتونو ته صادر شی چې تر ډیره یی لامل وچکالی، د ځمکو کمښت او د پراخ مارکیټ نشتون دی په زابل کې هندوانې او خټکی تر ډیره حده په مرکز قلات، سیوری او شهرصفا ولسوالیو کې کرل کیږی دغه تازه میوی ددی ولایت په شاوخوا (۱۱۵۰) هکتاره ځمکه کې کرل کیږی او په کلنی ډول سره د (۱۱۰۰۰) ټنه په اندازه حاصلات ورڅخه ترلاسه کیږی چې د یادو حاصلاتو کلنی عواید په تخمینی ډول سره (۲۷۵۱۰۰۰۰) میلیونه افغانیو په اندازه دی

### د تازه میوو لپاره د بازار تحلیل:

په زابل ولایت تازه میوو ته د کار په ټولو فصلونو کې تقاضا شته او هر سړی د تازه میوی په ارزښت او ګټه پوهیږی مگر داچې دلته یوازی په یوه فصل کې هغه تازه میوی چې په زابل ولایت کې کرل کیږی او حاصل ورکوی ترلاسه کیږی چې په ډیره لږه اندازه سره ددی ولایت د خلګو تقاضا او غوښتونو ته ځواب وایی او ددی ولایت خلګ د کال په دری فصلونو کې مجبور دی چې د نورو ولایاتو او یا ګاونډیو هیوادو څخه تازه میوه وارده کړی. که چیرته د زابل خپلو میوو ته دلته ښه بازار پیدا شی او داسی طریقی و بزګرانو ته ور وښودل شی چې هغوی د لږ کرل شوی میوی څخه زیات حاصل تر لاسه کړی ددی تر څنګ د بزاګرانو د حاصلاتو لپاره یو خاص مارکیټ جوړ شی تر څو هغوی خپل حاصلات پکی خرڅ کړی ددی سره په څنګ کې د دولت لخوا هغوی سره د میوو لپاره د هیواد په داخل او د هیواد  څخه بهر د مارکیټ په پیداکولو کې مرسته وشی نو دا به هغوی دی ته تشویق کړی چې ددغه میوو کرلو ته نوره هم پاملرنه زیاته کړی، دغه کار کولای شی زابل تر یو حده د تازه میوو له اړخه خپل ځان بساینې ته ورسوی او ددی ولایت اقتصاد ورسره وغوړیږی او همدارنګه د غربت د کمیدو او ژوندانه د سطحی په لوړیدو کې مرسته وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### په زابل ولايت کې طبي بوټي:

په زابل ولايت کې شته طبي بوټي په لاندې ډول دي:مغلوبي ترخه، تورکی ترخه، چهارگلی، زوول، دکارګه تيکی،دچرغوبخ، دځوز ببخ، لونګ، دشپانه غړی، باتنک، خاکشير، خوږولي، فلوس، دغره وارګر،مولايی، شنې، دغره بادام، کروړی، دغره انځر، مړوندی، وحشي زعفران، سپيرکی، باديان او ... دغه محصولات په طبابت کې په ډيره زياته اندازه سره استعمالیږی.

### د زابل د زراعتی محصولاتو د کرنې، روزنې، ساتنې او پلور په برخه کې ستونزې:

زابل ولايت ته د نورو برخو ترڅنګ په کرهڼه کې هم د پام وړ پاملرنه نه ده شوې، ددې ولايت ټولې زراعتی چارې په دوديزه او پخوانی بڼه تر سره کيږي په دې برخه کې عمده ستونزې په لاندې ډول دي.

- د بادامو، انځيرو او انګورو باغونه په مخکينيو کلونو کې جوړ شوی دی چې نه يواځې غير اصلاح شوی نيالګي کينول شوی دی بلکې د باغونو ديزاين غير معياری ده.
- زراعتی عمليات د دهقانانو له خوا په دوديزه او پخوانی شکل ترسره کيږي.
- په زابل کې د بادامو، انګورو او انځيرو د باغونو حصلات د دهقانانو، ښځو او هلکانو په واسطه په غير فنی توګه د لاس په ذريعه راټوليږی.
- کاريګرو ته د نغده پيسو په ځای بادام، انګور او انځير ورکول کيږي چې ډيره برخه محصولات په دې ځای کې ضايع کيږي.
- د حاصلاتو د راټولولو وروسته د محصولاتو د خوندی ساتلو او بسته بندی لپاره سهولتونه په ولايت کې نشته.
- د ولسواليو د سړکونو خراب حالت چې له امله يې زراعتی محصولات په لوړ قيمت او ځنډ سره مرکز قلات ته رسيږي
- د اصلاح شويو نهالګيو او تخمونو نه موجوديت.
- د زراعتي اوبو غير منظم استعمال او نه مديريت.
- د قرضي ورکوونکي بانک نه موجوديت.
- دنباتي اوحيواني قرانطين نه شتون.
- دکرنيزو توکو دکرلو، روزنې، د آفاتو او امراضو د ميخانيکي کنترول، بازارموندنې او پروسيس له اړخه د دهقانانو د پوهې دسطحې ټيټوالی.
- معياري زراعتي درملو ته د دهقانانو نه لاسرسی.
- د باغونو د جوړولو اوتوليد په برخه کې د مسلکي کسانو نه موجوديت.
- دغيرمترقبه يخ وهنې له امله دميوه جاتو د محصولاتو زيانمن کېدل.
- د معياري کيمياوي کودونو نه موجوديت.
- د اوبو لګولو د عصري سيستم نه موجوديت.
- په سنتي/عنعنوي ډول دميوه جاتو د محصولاتو راټولول.
- دميوه جاتو د پروسيس دفابريکونه شتون.
- دميوه جاتو او سبزيجاتو د محصولاتو د توليد ،له راټولولو نه وروسته د هغوی د ساتلو، خرخلاو، پروسيس او بسته بندی نه پرته مارکيټ ته عرضه کول.
- په غيرمسلکي اونادرست ډول سره دميوه جاتوخرڅلاو.
- مرکز ته د ميوه جاتو د محصولاتو د انتقال لپاره د معياري مواصلاتي لارو خرابوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په زابل ولایت کې په معیاري شکل د بسته بندۍ او پروسیس لپاره دبرق نه موجودیت.
- د کرنیزو محصولاتو د مارکیت نه موجودیت.
- د زراعتي او مالداري محصولاتو د تولید د جمع بندۍ لپاره د ماشین آلاتو نه شتون.
- د مجهزو لابراتوارونو نه شتون.
- د تحقیقاتي فارم نه شتون.
- په اړونده برخه کې د په کار پوه او ور مسلکي کسانو نه شتون.

### د زراعتي محصولاتو د تولید او صادراتو د مقدار زیاتوالی لاري:

د زراعتی محصولاتو د معیاري کولو ، د حاصلاتو زیاتوالی ، د بازار رسولو پروسې ګړندۍ کول ، کیفیت ښه کول ، خلکو ته د لا زیاتو دندو رامنځته کول او د بادامو او نورو کرهنیزو محصولاتو پانګوونې او سوداګرۍ لپاره د غوره چاپیریال رامنځته کول، د محافظت په برخه کې ځینې لومړني اقدامات او د کروندګرو د ظرفیت لوړولو لپاره ځینې اړتیاوې په لاندې ډول خلاصه کیږي:

1. **داصلاح شویو نیالونو د تولید، روزنې لپاره په هره ولسوالی کې قوریې جوړول:**

   په زابل ولایت کې د قوریو جوړول د پانګونې لپاره یو ښه فرصت دی، د اصلاح شویو نیالګیو د قوریو له طریقه کولای شو د زراعتی محصولاتو کیفیت ښه شي او کمیت یې زیاتولای ومومي.

د زابل په هره ولسوالي کې باید هر کال لږ تر لږه (100000) د بادامو، انځیرو، انارو، انګور او پستی اصلاح شوی نیالګی کینول شي.

2. **د اوبو د ذخیرو جوړول:**

په وروستیو کلونو کې د وچکالی له امله د زابل په ټولو ولسوالیو کې د اوبو سطحه ډیره ټیټه شوې ده نو په دې اساس د اوبو د سطحې دلوړیدو لپاره زابل ولایت د اوبو ذخیرو ته ضرورت لري.

3. **د اوبو د کانالونو جوړول:**

زابل یو له هغه ولایتونو څخه دی چې د وچکالۍ له امله ډیر زیات اغیزمن شوی او د دې ولایت د اوبو د سطحه ټیټه شوی یا وچې شوي دي چې په اغیزمنو سیمو کې د کرهنیزو اوبو دکانالونو جوړیدو ته اړتیا ده چې له یوې خوا به خلګ وکولی شي کار پیدا او عاید ترلاسه کړي او له بلې خوا به ددې ولایت کرهنیز محصولات له لاسه نه وځي.

4. **د قطری ای آبیارۍ ترویج او عملي کول:**

د کرهنیزو محصولاتو د ساتلو او ترلاسه کولو لپاره قطری اي آبیاری د اوبو لګونې سیستم یو له اغیزمنو سیستمونو څخه ګڼل کیږي چې په زابل ولایت کې پلي کیدی شي چې ددې ساتلو، عملی کولو او پاملرنې لپاره باید ظرفیت لوړشی ترڅو بزګران وکولی شي په سمه توګه دغه سیستم زده کړئ او ویې کاروئ.

5. **د دهقانانو لپاره د لنډ مهاله ښوونیزو ورکشافونو جوړول:**

د زابل ولایت د بزګرانو کرهنه تر ډیره حده د کرهنې د قواعدو د په پام کې نیولو پرته په دودیز ډول سره مخکې ځي او دزراعتی قواعدو پرته فعالیتونه پرمخ وړي ، کوم چې د بادامو د حاصلاتو د ښه حاصل ترلاسه کولو دمخنیوی کوی او همدارنګه د نباتاتو افاتو او ناروغیو څخه د مخنیوي لپاره هیڅ غوره لاره ورته نده معلومه نه لاره ددې لپاره پکار ده چې زابل د بزګرانو لپاره په څمکو کې لنډمهاله د (اوبو لګولو، کښت، د ونو ساتنه ، درملنه او سپرې او حاصل) ترلاسه کولو روزنیز کورسونه ورته جوړ کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زابل ولایت د مالداري محصولات:

### د شته محصولاتو په اړ لنډ معلومات:

کرهڼه او مالداری د هغو تولیدی محصولاتو څخه دی چې د هیواد د اقتصاد په وده او د خلګو د ژوندانه د سطحی په لوړیدو او همدارنګه د غربت د سطحی په ټیټدو کې اساسی او بنیادی رول لری، د افغانستان د ٪۸۰ وګړی په کرهڼه او مالداری بوخت دی او ددی لاری خپل ژوند مخکی بیایی چې کرهڼه او مالداری یی د عایداتو مهمی سرچینی دي.که موږ هغه توکو ته چې زموږ بدن ورته په روزمره توګه ضرورت لری نظر وکړو  زمونږ د غذا اساسی برخه جوړوی چې د حیوانی محصولاتو څخه عبارت دی اوکمبود یی مختلفی ناروغی منځ ته راوړی نو په همدی اساس مالداری د انسان د ژوند د مخکی بیولو لپاره ډیره زیاته اړینه ده. زابل د افغانستان د هغو ولایاتو د جملی څخه شمیرل کیږی چې ډیر خلګ یی د مالداری او کرهڼې پواسطه خپل ژوند مخکی بیایی او په روزنه او ساتنه یی بوخت دی. د زابل په لری پرتو سیمو کې ډیری خلګ مالونه لری او په عنعنوی شکل سره یی روزلی او د محصلاتو څخه یی ګټه اخلی ددی ترځنګ زابل یو د هغه ولایاتو د جملی څخه دی چې په لویه پیمانه دکوچیانو کورنی میشتیږی د هغه معلوماتو په اساس ترلاسه شوی د زابل په ولایت کې د کوچیانو (23000) کورنی د اوړي او ژمي په موسم کې ددی ولایت  په ټولو ۱۱ ولسوالیو کې اوسیږي او په ځینو سیمو کې یواځې ژمـی تـیروي ددغه کورنیو ډیره برخه د مالداری په روزنه او ساتنه باندی بوختي دی.

### په زابل کې د مالداری شته ظرفیت:

د کرنې پر سکتور سربېره د مالدارۍ سکتور هم یو له هغه مهمو سکتورنو څخه ده چې له دی لارې خلګو ته غذایي مواد برابریږي او په عینې حال کې د باسواده او بې سواده خلکو لپاره  په ښاري او کلیوالي سیمو کې د کار زمینه مساعدوي پر همدې بنسټ د کرهڼې د پراختیا ملي کرنلاره (۱۳۸۸هـ ش) او د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژيي(۱۳۷۷ هـ ش) په خپل وارسره د مالدارۍ د سکتور په انکشاف هم تاکید کړی ترڅو د مالدارۍ تولیدات لوړ او غذایي مصؤینت رامینځته شي.

څرنګه چې د زابل ولایت زیاتره وګړي د مالدارۍ په مختلفو برخو کې لکه د غواګانو، اوزو، پسونو او کورنیو چرګانو په ساتنه او روزنه باندې بوخت دي چې ټولو نارینه او ښځینه وو ته یې د کار زمینه برابره کړې خو بیا هم په یاد ولایت کې د مالدارۍ روزنه په عنعنوي توګه پر مخ ځي او دې مهم سکتور ته تردم ګړۍ دولت او مؤسساتو کومه خاصه پاملرنه نه ده کړې.

د تخمینی ارقامو په اساس په زابل کې د (۳۸۲۰۲۷) غواګانی او غوایی، (۸۰۳۴۴) پسونه او (۵۹۲۹۳۹) وزی شته په دغو ارقامو کې د کوچیانو مالداری شامله نده یوازی ځایی خلګ په دغه اندازه سره مالداری لری او ساتنه یی کوی مګر د کوچیانو د مالدای د ارقامو په اړه تراوسه دقیق معلومات نشته چې په زابل کی میشتیدونکی کوچیان په څومره اندازه سره مالونه او پسونه لری.

### علفجر او څرځایونه:

په زابل کې د حیواناتو د روزنې او ساتنې لپاره څرځایونه ډیر لږ دی او یا هم اوس لمنځه تللی دی چې دغه چاری د مالداری روزنه او ستانه تر ډیره حده پوری ټګنی کړی ده د ځینو معلوماتو په اساس د زابل (۵۰۰۰) هکتاره ځمکه د څرځایونو پوښلی ده چې د یادو څرځایونو ډیره برخه اوس د وچکالی، اوبو د کمښت او د کمی پاملرنی په وجه د لمنځه تلو د خطر سره مخامخ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مالداری د اقتصادی ارزښت تحلیل:

که چیرته موږ پورته ارقام په مجموعمی ډول سره راټول کړو نو په زابل کې په تخمینی ډول سره د مالداری شمیر (۱۷۷۸۴۱۰) کیږی چې د عاید ارزښت یی (۱۹۱۰۱۳۵۰۰۰۰) افغانی کیږی چې پدی کې د پسونو شمیر (۸۰۳۴۴۴) او د عاید ارزښت یی (۱۲۰۵۱٦٦۰۰۰۰) افغانی، د وزو شمیر (۵۹۲۹۳۹) او ورڅخه د ترلاسه کیدونکی عاید ارزښت یی (۵۹۲۹۳۹۰۰۰۰) افغانی کیږی او د غواګانو شمیر (382027) او دعاید ارزښت یی () افغانی ده چې ددغه حیواناتو څخه وریې، پوستونه، شیدی، مستی، قورت، کوچې ترلاسه کیږی چې د ورځنی ژوند چاری وربانډی مخکی بیایی دغه محصولات یو د هغو ارزښت لرونکی عایداتی سرچینو څخه دی چې تر ډیره حده د خلګو اقتصاد وربانډی ولاړ ده.

**د حیواناتو د روزنی او ساتنی په په برخه کې شته ستونزی او ننګونی:**

تر اوسه په زابل کې د حیواناتو روزنه او ساتنه په عنعنوی او ابتدایی شکل سره کیږی او هغه حیوانات چې ساتل کیږی او ګټه ورڅخه اخیستل کیږی اصلاح شوی نسلونه ندی هغه ستونزی چې ددی ولایت د مالداری او حیواناتو د زیاتوالی پروړاندی او د هغه څخه د تر لاسه کیدونکی عاید د ډیروالی پر وړاندی خنډ بلل کیږی په لاندی ډول سره دی.

۱ – وچکالی او د اوبو کمښت.

۲- د علفچرونو او څړځایونو لږوالی او د وچکالي په سبب د څړځایونو لمنځه تلل او همدارنګه د علفچرونو ساتنی ته جدی پاملرنه نه کول.

۳ – د حیواناتو د روغتیا لپاره په کافی اندازه د دواګانو او واکسیینونو نشتون.

۴ – حیواناتو د روزل شویو نسلونو کمښت چې ددی ولایت د آب هوا سره تطابق ولری.

۵- د حیواناتو د روغتیا ساتنی لپاره د بنه او تکړه وترنرانو کمښت او په لری پرتو سیمو کې د هغوی نشتون.

٦- د مختلفو حیوانی ناروغیو د مخنیوی لپاره د اړونده چاروکو لخوا د وقایوی تدابیرونو نه نیول.

۷- د علوفاجاتو کمبود

۸- د حیواني متراکمه خوراکې کمبود

۹- د تولید ټیټه کچه او د نسل د اصلاح ناکافي پروګرامونه په ځانګړې توګه د مصنوعي القاح په برخه کی.

۱۰- د مالدارنو د تخنیکي پوهې د کچې ټیټوالی.

۱۱- اضطراري حالتونو ته د یو سیستم نه موجودیت.

۱۲- د تحقیقاتي او ترویجي پروګرامونو نه موجودیت.

۱۳- د حیوانی روغتیا او مالداری په برخه کې د موسساتو او برنامو نه موجودیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وروستی نتیجه ګیری:** دا چې زابل ولایت د اقلیم او آب هوا له لحاظه د حیواناتو د روزنې او ساتنې لپاره ښه چاپیریال، پراخ او لوی ورشوګانې لرې او همدارنګه دلته په خصوصي برخه د مالونو د ساتنې روزنې او د هغو څخه د محصولاتو د ترلاسه کولو په برخه کې د پانګونې ښه فرصتونه شته او زابل د جغرافیې موقعیت لحاظ په مناسب ځای کې قرار لرې نو کولای شو چې د مالداری د نسل د ساتنې، روزنې او د هغه غوښې، وړی، پوست او لبنیاتو د ترلاسته کولو او نورو ګاونډیو هیوادونو ته د هغو په صادرولو سره ددې ولایت کرهنې او مالداری برخه پراخه او د خلګو ورځنې عاید ورسره زیات او اقتصاد یې وغوړوو.

### په زابل ولایت کې د حیواناتو د شته فارمونو او تولیدی ظرفیت په اړوند معلومات:

په زابل ولایت کې د غواګانو او چرګانو د تولید او نسل روزنې او محصولاتو د ترلاسه کول فارمونه شته چې معلومات یې په لاندې ډول سره وړاندې کیږی.

### ۱- د غواګانو فارمونه:

**د غواګانو د وضعیت په اړه معلومات:**

د مالداری د سکتور یو له مهمو برخو څخه د غواګانو روزنه ده، چې د زابل ولایت زیاتره وګړي په کلیو او ښاري سیمو کې وطنې او کندهاری نسل غواګانې ساتي او ډېر کم مالداران یې کنړي، سیستاني او خارجي نسل غواګانې روزي.

اقلیم ته په کتو سره زابل ولایت د حیواناتو د روزنې، فارمونو د تاسیس او تولیداتو لپاره یو ښه او مناسب چاپیریال لری چې په لږه اندازه وګړی یې په فارمونو کی دتولید په برخه کی په کار بوخت دی، د زابل ولایت په مرکز قلات ښار کې د خوسکې د روزنې، ساتنې او د غواګانو څخه د لبنیاتو ترلاسه کولو او تولید لپاره (۱۰) فارمونه شتون لری چې د هغو څخه لبنیات ترلاسه کوی او وروسته دغه لبنیات په ښار کې پلوری یادو فارمونو د یو فارم ورځنې تولیدی ظرفیت (۵۰۰) لیتره ده چې د یادو فارمونو مجموعی ظرفیت (۷۵۰۰) لیتره ده، ورسره (۲۵) په شاوخوا کې کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

ددغي سیمي خلک له غواګانو څخه د غوښي، شیدو او کار لپاره ګټه اخلي او د هغوی فرعي محصولات لکه پوستکي، حیواني سرو څخه استفاده کوی او هم یې بازار ته عرضه کوي؛ د حیواني روغتیا او مالداری آمریت د معلوماتو پربنسټ په زابل ولایت کې په اټکلی توګه 64390 غواګانې شته ، چې له بده مرغه تر اوسه پورې په مرکز کلات کې یواځې ۸ شخصی فارمونه اړوند خدمات وړاندې کوي چې مجموعا ۱۰۰ غواګانې او ۵۷ خوسکیان لري.

**په زابل ولایت کې د فارمونو تعداد**

په کلیوالي شکل د غواګانو د ساتنې تخمیني احصایئه

| شماره | ولایت | ولسوالي | تعداد | د فارمدار نوم | ولسوالي | قریه/کلی | د غواګانو تعداد | د خوسکیو تعداد |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | | مرکز | 5000 | حاجي عنایت الله | | قوماندانې مسجد | 22 | 8 |
| 2 | | شهر صفاء | 2000 | آغا محمد | | لب دریا | 10 | 6 |
| 3 | | ارغنداب | 8000 | محمد استاد | مرکز قلات | رساله | 10 | 8 |
| 4 | زابل | شینکی | 1500 | عبدالستار | | ولایت کوځه | 10 | 4 |
| 5 | | شاجوی | 13000 | فیض الله | | هزاری | 12 | 8 |
| 6 | | نوبهار | 3260 | حاجي احمد خان | | باباګګ | 11 | 10 |
| 7 | | میزانه | 7800 | حاجي علي خان | | خوګګره | 13 | 6 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | | شملزی | 2540 | عباد علي | | باباګگ | 12 | 7 |
| 9 | | اتغر | 2290 | | | | | |
| 10 | | خاک افغان | 9000 | | | | | |
| 11 | | دایچوپان | 1000 | | | | | |
| مجموعا | | | 64390 | | | | 100 | 57 |

### د غواګانو د صنعت د پرمختګ لپاره پشنهادات:

**د غواګانو د نسل اصلاح:**

د نسل اصلاح د غواګانو د صنعت یو له مهمو برخو څخه ده او په اوسني عصر کې د نسل د اصلاح لپاره تر ټولو ښه او منظم لار مصنوعي القاح ده،خو په  زابل ولایت کې د  ۱۱ اداري واحدونو لپاره یوازې یو کس د خصوصي سکتور له خوا په اړونده برخه کې دنده پر مخ وړي، چې په ټوله کې یې په نشت سره حسابولای شو نو د غواګانو د نسل د اصلاح لپاره باید په زابل ولایت کې د کرنې وزارت، همکارو مؤسساتو او یا خصوصي سکتور لاندني ګامونه واخلي:

- په مرکز او ټولو ولسوالیو کې د یو باب مجهز مصنوعي القاح سټېشن تاسیسول.
- د زابل ولایت په ټولو ولسوالیو کې د مصنوعي القاح په برخه د مسلکي او نورو کسانو روزل.
- د ولایت په کچه د نایټروجن دستګاه نصبول.
- د ولایت په کچه د سپرم د راټولووني مرکز ایجادول.
- د مصنوعي القاح د ترویج لپاره مالدارنو ته روزنیز پروګرامونه برابرول.
- بې بضاعته خلکو ته په سبسیډ توګه د ښه نسلونو توزیع کول.

**د غواګانو لپاره مناسبې تغذيې ته لاسرسی:**

د نسل د اصلاح څخه وروسته دوهم فکتور چې د تولید په هر اړخیزه لوړتیا کې مهم رول لري د غواګانو ښه تغذیه ده؛ چې موږ یې په اړه لاندني موارد وړاندیزوو:

- د زابل ولایت د چراګاوو/څرځایونو د احیاء او احداث لپاره لازمي پروژې او برنامې په پام کې نیول.
- مالدارنو ته په سبسیډي توګه د باکیفیته علوفاجاتو د تخمونو او کېمیاوي کودونو توزیع کول.
- د کرهنې وزارت او یا همکارو  مؤسساتو له خوا په مرکز او ولسوالیو کې د باکیفیته حیواني متراکمې خوراکې د تولید په موخه په ترویجي شکل د فیډر بانکونو تاسیسول او د فیډر بانک په جوړولو کې سبسید اخیستل.
- په مرکز قلات او ولسوالیو کې په سبسیډي توګه د سایلج، هایلج او بیدیا د جوړولو لپاره په ترویجي ډول د عصري ماشین آلاتو توزیع کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ب: د پسونو او اوزو د روزنې صنعت:

د زابل ولایت زیاتره اوسېدونکي په ځانګړي توګه کوچیان د پسونو او اوزو په روزنه مصروف دي، پسونه او اوزې د خلکو لپاره غوښې او شیدې برابروي او همدارنګه تقریبا په کال کې (۱۲۰۰) ټنه وړی او (۵) ټنه کشمیره په غیری مسلکی توګه تولیدوي؛ د معلوماتو له مخې په زابل ولایت کې 803444 پسونه او 592939 اوزې روزلې کېږي خرڅګه چې اوسمهال په دغه سیمه کې د پسونو او اورزو د روزنې بهیر لږ ډېر ټکنی دی نو ځکه په اړونده برخه کې لاندني موارد وړاندیزوو:

**د پسونو او اوزو د روزنې صنعت د پرمختګ پشنهادات:**

- په زابل ولایت کې د پسونو د قرقل نسل د مروجولو لپاره د کرنې وزارت او نړیوالو مؤسساتو له خوا مالدارانو ته په سبسیډي توګه پروژې تطبیقول.
- په زابل ولایت کې د اوزو د ښه نسلونو لکه بیټل، چلي او داسې نورو د مروجولو لپاره د کرهنې وزارت او نړیوالو مؤسساتو له خوا مالدارانو ته په سبسډي توګه پروژې تطبیقول.
- د اوزو کشمیره چې د اوزو یو مهم تولید دی خو له بده مرغه چې مالداران یې په اړه بشپړ معلومات نه لري که چیرته د کرنې وزارت او نړیوال مؤسسات په اړونده برخه کې مالدارانو ته عندالموقع روزنیز ورکشاپونه دایر کړي او دا به دیوی خوا د کشمیری د ضایعه کولو مخنیوی وکړی او همدارنګه به د مالدارانو اقتصادی ورسره ښه شي.
- د پسونو د وړیو د پروسیس، بسته بندی او د هغه لپاره د مارکېټ په برخه کې لازم پروګرامونه په لاره اچول.
- څرنګه چې د پسونو او اوزو تغذیه له علفچرونو څخه ده نو د زابل په ولایت کې باید د علفچرونو سیمه معلومه او د هغوی د بیا احیاء او احداث لپاره لازمې پروژې پلي شي.
- د علفچرونو په هر ۱۰ کېلومتري کې د پسونو او اوزو لپاره د یوه شپول (قوتن) او یوه د اوبو ذخیره جوړول.

| ګڼه | ولایت | ولسوالي | پسونه | اوزې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | زابل | مرکز | 95040 | 58151 | |
| 2 | | شهر صفاء | 67285 | 54300 | |
| 3 | | ارغنداب | 58320 | 41800 | |
| 4 | | شینکی | 78490 | 56490 | |
| 5 | | شاجوی | 72890 | 58433 | |
| 6 | | نوبهار | 78490 | 61382 | |
| 7 | | میزانه | 67800 | 47490 | |
| 8 | | شملزي | 71490 | 59310 | |
| 9 | | اتغر | 62418 | 43590 | |
| 10 | | خاک افغان | 79421 | 54980 | |
| 11 | | دایچوپان | 71800 | 57013 | |
| مجموعاً | | | 803444 | 592939 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ج :د مرغداری صنعت:

په زابل ولایت کې چرګان په عنعنوي توګه د کورنیو د غذایي مصؤنیت او مالي سرچینې لپاره په کورونو کې روزل کېږي او په ډیره کمه کچه په سوداګریزه بڼه د غوښینو چرګانو څو فارمونه جوړ شوي دي.

د چرګانو د صنعت کچه د زابل په ولایت کې د ساری امراضو د شیوع لکه نیوکاسټل، د صحي خدماتو نشتون، اصلاح شوو نسلونو نه موجودیت، د روزنې پخوانې سیستمونو، د مالي منابعو نه موجودیت، د ترویجی او آموزش پروګرامونو نه موجودیت او همدارنګه په دی برخه کې د دولت او بین المللی موسساتو لخوا په زابل ولایت کې برنامی ندی تطبیق شوی، همدارنګه د مرغداری په صنعت کې خصوصی سکتور هم کمه پانګونه کړې نو ددی مشکلاتو د حل لپاره باید ۵ کلنه برنامه په نظر کې ونیول شی او په دی برخه کې لاندی فعالیتونو تر سره شی.

**د مرغداری صنعت د پرمختګ پشنیهادات:**

- په زابل ولایت کې د چرګانو د صنعت د پرمختګ لپاره باید دولت او بین المللی موسساتو لخوا برنامه تطبیق شی.
- د خصوصی سکتور سره په سب سایډ توګه د ګوشتی، تخمی او دوه مقصده چرګانو هیچبر ی تاسیس شی.
- د خصوصی سکتور سره په سب سایډ توګه د ګوشتی، تخمی او دوه مقصد اصلاح شوو چرګانو کوچنی، متوسط او لوی فارمونو جوړوشی.
- د عامه او خصوصی سکتور سره په مشارکت یا سب سایډ توګه د چرګانو د دانی د تولید فابریکه تاسیس کول.
- د خصوصی سکتور د تقویه په خاطر د کمو مالیو وضعه کول.
- د کورنیو چرګانو د روزنی د تقویی په خاطر ګوشتی، تخمی او دوه مقصده اصلاح شوو چرګانو توزیع سره د لمړینو وسایلو، واکسینو، ادویه جات باالخصوص هغه ښځو ته چې بی سرپرست وی.
- د کورنیو چرګانو د روزنی د تقویی په خاطر روزنیز پروګرامونو په مخ واچول شی.
- د کورنیو چرګانو د روزنی د تقویی په خاطر د کوچنو تولیدونکو نښلول له اتحادیو سره.
- د ولایت په سطح د مرغداری روغتیا کمپلکس تاسیس کول.
- د چرګانو د امراضو او واکسیناسیون د تطبیق په هکله خلکو ته عامه پوهی ورکول او د چرګانو روزونکو ته د ګزارش ورکولو سیستم ښودل.

| شماره | ولایت | ولسوالی | طیور | د فارمدار نوم | موقعیت | تعداد | د فارم ډول | د چرګانو شمیر | د تلیفون نمبر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په کورني شکل د چرګانو ساتنی احصایئه | | | | د چرګانو د فارمونو احصاییه | | | | | |
| 1 | زابل | مرکز | ۳۵۰۰۰ | ملاعبدالله | سیور | ۲ باب | ګوشتی | ۱۰۰۰۰ | ۰۷۰۰۱۷۸۶۴۳ |
| 2 | | شهر صفاء | ۱۵۰۰۰ | احسان الله | مرکز اصغر کلی | ۱ باب | ګوشتی | ۵۰۰۰ | ۰۷۰۰۳۵۳۲۱۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | | ارغنداب | ۲۰۰۰۰ | حاجی روف | مرکز قلات | ۴ باب | گوشتی | ۱۶۰۰۰ | ۰۷۰۰۳۵۷۰۱۴ |
| 4 | | شینکي | ۲۵۰۰۰ | عبدالخالیق | باکرزی | ۱ باب | تخمی | ۵۰۰ | ۰۷۰۰۸۵۵۸۲۷ |
| 5 | | شاجوی | ۳۲۰۰۰ | حاجی حمید | شاجوی | ۲ باب | گوشتی | ۷۰۰۰ | ۰۷۰۰۳۶۵۵۹۹ |
| 6 | | نوبهار | ۱۵۰۰۰ | محمد غنی | شاجوی | ۱ باب | کوشتی | ۱۲۰۰ | ۰۷۷٦٦۴۰۱۴۰ |
| 7 | | میزانه | ۱۲۰۰۰ | عبدالواحد | شاجوی | ۱ باب | تخمی | ۳۰۰ | ۰۷۰۲۸۲۵۱۲۸ |
| 8 | | شملزی | ۱۳۰۰۰ | محمد هارون | مرکز قلات | ۱ باب | تخمی | ۸۰۰ | ۰۷۰۵۱۴۳۲۴۹ |
| 9 | | اتِغر | ۱۰۰۰۰ | محمد نبی | شاجوی | ۱ باب | گوشتی | ۲۰۰۰ | ۰۷۰۳۹۳۵۲۳۳ |
| 10 | | خاک افغان | ۱۷۰۰۰ | محمد نبی | شاجوی | ۱ باب | تخمی | ۱٦۰۰ | ۰۷۷۷۵۰۸۴۱٦ |
| 11 | | دایچوپان | ۱٦۰۰۰ | اختر جان | شاجوی | ۲ باب | گوشتی | ۵۰۰۰ | ۰۷۰۲۲۱۷۱۱۰ |
| 12 | | مجموعا | ۲۱۰۰۰۰ | علی خان | شاجوی | ۱ باب | گوشتی | ۵۰۰۰ | ۰۷۰۸۱۰۱۰۵۸ |

### ذ: د کبانو د روزنې صنعت:

دماهیانو غوښه د حیواني پروټین یو ساده او اقتصادي ارزښت لرونکی ماده ده سربېره پدی تر ډېره حده په اوسنیو حیواني محصولاتو کې د پام وړ ګټل کېږي، خو له بده مرغه چې په زابل ولایت کې د کبانو د روزنې صنعت د فارم په شکل په تخنیکي او فني بڼه په صفر کې ضرب دی او حال داچې زابل ولایت د اوبو ښلابلې سرچینې لري؛ لکه: د ترنک او جلدک سیند، ارغنداب سیند، میزانې سیند، هلال چینه، باران چینه، آبکچه چینه او تاخوم چینه، همدارنګه په زابل ولایت کې د ترویج او آبیارۍ د مدیریت د احصایې له مخې ۷۰۰۰ ټیوب ویل موجود دي چې د کرهنیزو ځمکو د آبیارۍ لپاره ترې استفاده کېږي.

**د کبانو د روزنې صنعت پشنهادات:**

له یادو ټولو فرصتونو څخه اړینه ګڼه چې د کبانو د روزنې د صنعت د ودې لپاره په زابل ولایت کې د دولت او بین المللي موسساتو لخوا پنځه کلنې برنامې په پام کې ونیولی شي او د کبانو د روزنې صنعت لکه د نورو صنعتونو پشان دلته هم ریواج شي:

- په زابل ولایت کې د ماهیانو د هیچرونو تاسیسول.
- په وړیا ډول د ماهیانو د کوچنیو، متوسطو او لویو فارمونو جوړول څکه چې دلته دا سکتور په صفر کې قرار لري تر څو مروج شي.
- هغه کسان چې ټیوب ویل لري هغوی ته یو حوض جوړول، د حوض وسایل، د ماهیانو چوچه په وړیا ډول ورکول.
- د عامه او خصوصي سکتور سره په مشارکت یا په سب سایډ توګه د ماهیانو د دانې د تولید فابریکه تاسیسول.
- د ماهیانو د ترویج او انکشاف لپاره روزنیز پروګرامونه دایرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د طبيعي ماهيانو تکثيرول.
- د ولايت په سطح د ماهيانو د تشخيص لابراتور تاسيسول.

### ه: د شاتو د مچيو د روزنې صنعت:

د شاتو مچېو د روزنې صنعت د مالدارۍ له هغو مهمو برخو څخه دی چې په زابل ولايت کې په غرنيو منطقو کې پرې لږ ډېر کار شوی دی مگر د فارم په شکل يې په فني او تخينکي ډول روزنه ډېره کمه ده، چې په ٪۱ کې هم نه راځي او حال داچې د زابل ولايت زياتره وگړي د باغدارۍ په بخش کې مصروف دي او د مچېو روزنې لپاره ډېر ښه شرايط لري نو پر همدې بنسټ اړينه ده چې د کرهنې وزارت او نړيوال مؤسسات په زابل ولايت کې د مچيو د روزنې د صنعت په پښو درولو لپاره په لاندنيو مواردو کې تر ممکنه کچې مرسته وکړي:

**د شاتو د مچيو د روزنې صنعت د پرمختگ پشنهادات:**

- هر کال ۵۰ تنه فارمدارنو او باغدارنو ته د مچېو د ۲۰ صندوقونو سره د وسايلو ته توزيع کول.
- فارمدارنو ته د شاتو د مچېو په اړه روزنيز پروگرامونه دايرول.
- فارمدارنو ته د ځوان او ښه صفات لرونکو ملکو توزيع کول.
- د شاتو د کېفيت او تحليل لپاره د ولايت په سطح د يو باب لابراتور تاسيسول.
- د مچېو د امراضو د راپور ورکونې يو منظم مکانيزم جوړول.
- د هغو ونو او گلانو مروجول، چې د شاتو په توليد کې رول لري.

### د حيواني روغتيا خدمات:

د مالدارۍ د پراختيا د سکتور يو له مهمو برخو څخه حيواني روغتيا ده او موږ ددغې چارې په مرسته د صحي او سالم توليد داسې زمينه برابرولای شو ، چې خپل حيواني محصولات بين المللي مارکېټونو ته صادر کړو،مگر د حيواني روغتيا خدمات په زابل ولايت کې په ډېره عادي توگه د خصوصي سکتور له لارې د ۱۴ وترنري ساحوي واحدونو له خوا په ۷ ولسواليو او مرکز قلات کې کېږي او د ۳ ولسواليو اوسيدونکي د وترنري خدماتو ته تر اوسه هم لاسرسی نه لري خو پاتې دې نه وي چې د زابل ولايت ۵ د وترنري ساحوي واحدونه تعمير لري او د يو مجهز لابراتور، سيار حيواني کلينک او منظم مسلخ نشتون پورتنۍ ستونزه نوره هم جدي کړې، چې پر همدې بنسټ موږ د کرې وزارت او نړيوالو مؤسساتو ته لاندني موارد د يادې برخې د پراختيا او پرمختيا لپاره وړانديزوو:

**د حيوانی روغتيا په برخه کی پشنيهادات:**

- د زابل ولايت لپاره د وترنری مسلکی کسانو روزل.
- په ولسواليو کې د کلينيکونو لپاره د تعميرونو جوړول.
- د وترنری مسلکی ډاکټرانو لپاره د وترنري کلينيکي او جراحي سامان آلاتو تهيه کول.
- د ولايت په سطح د سيارو حيواني کلينکونو تاسيسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د مجهزو حیواني لابراتوارونو تاسیسول.
- مرکز کلات کې د وترنري خدماتو کمپلکس.
- د راپور ورکونې سیستم تقویه کول .
- د عصري او ماډرن مسلخونو جوړول.
- د ساري ناروغیو لکه PPR, FMD, Anthrax, Black leg او داسې نورو لپاره په سبسیډ توګه د واکسین تطبیقول.

**مالدارنو ته د قرضو برابرول:**

څرنګه چې د زابل ولایت د جنوب غرب زون یو له هغه ولایتونو څخه دی چې زیاتره وګړي یې د مالدارۍ په برخه کې په عنعنوي ډول بوخت دي او د عصري کېدلو د منظمو سیستمونو د پلي کولو لپاره لازمه او کافي سرمایه نه لري تر څو د مالدارۍ په برخه کې سرمایه ګذاري وکړي نو پر همدې بنسټ اړینه ده چې د افغانستان د کرنیز بانک یوه څانګه زابل ولایت ته ورکړلې او په لاندنیو ټکو تر ممکنه کچې پانګونه وشي:

- په زابل ولایت کې د قرضو د نهادونو تاسیسول.
- مالدارنو ته د بانکونو له لارې د مالدارۍ د کوچنیو، متوسطو او لویو قرضو ورکول.
- د دولت او بین المللي موسساتو له لارې مالدارنو ته په قسط باندې له ۱ - ۱۰ پورې غواګانې ورکول شی.
- د دولت او بین المللي موسساتو له لارې مالدارنو ته په قسط باندې د پسونو او وزو له ۵ - ۵۰ پورې ورکول.
- دولت او بین المللی موسساتو له لارې مالدارنو ته په قسط باندې د چرګانو، ماهیانو او شاتو مچېو کوچنې، متوسط او لوی فارمونه جوړول.

**حیواني محصولاتو ته مارکېټ پیداکول:**

په زابل ولایت کې د مالدارۍ عمده تولید ات لکه غوښه، شیدې، مستې، شلومبې،کوچ، قورت، پنیر،وړۍ،کشمیره او پوستکي دی خو د یادو مهمو محصولاتو د جمع وارۍ، پروسیس او بسته بندۍ په برخه کې د دولت، موسساتو او خصوصي سکتور له خوا لازم کار نه دی شوی.

ددې لپاره چې د زابل ولایت مالداران له دې حال څخه را وباسو او تجارتي بڼې ته یې واوړوه ،نو اړینه ده چې د لاندنیو چارو لپاره لنډمهاله او اوږدمهاله برنامې او پروژې په پام کې ونیسو.

- په زابل ولایت کې د لبنیاتو د مارکېټینګ لپاره د مالدارۍ او لبنیاتو د تولیدي کوپراتیفونو او اتحادیو جوړول، د شیدو دجمعوارۍ او پروسیس مراکز جوړول چې په دی برخه کې ۵ کلنې برنامې باید په پلان کې ونیولې شي.
- څرنګه چې زابل ولایت د وړیو یو ستر تولیدونکی ولایت دی، نو اړینه ده چې د وړیو د جمع اورۍ، پروسیس او مارکېټینګ لپاره د ولایت په سطحه له خصوصي سکتور سره په مشارکت یا سب سایډ توګه فابریکه جوړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خرنګه چې د زابل ولایت زیاتره وګړي د اوزو په روزنه مصروف دي او د کشمیرې په راټولولو کې مسلکي وړتیا نه لري، نو پر همدې بنسټ اړینه ده چې  د کشمیرې د اهمیت، جمع اورۍ، پروسیس او بسته بندی په هکله مالدارنو ته روزنیز پروګرامونه چمتو او ورته د کشمیرې د راټولوونې وسایل توزیع شي.

**د چرګانو د روزنی، غوښی او هګیو د تولید فارمونه:**

په زابل ولایت کې د چرګانو د روزنې او د غوښې د تولید فارمونه په تجارتی بڼه اوس تازه شروع شوی په یاد ولایت کې د چرګانو د روزنې او د غوښې د تولید په برخه کې د کوچنیو او لویو مقیاسو په بڼه د پانګونې ښه فرصتونه شته. د کرهڼې او مالداری ریاست د معلوماتو په اساس په زابل کې د چرګانو د روزنې او غوښې او هګی د  تولید ۱۵ فارمونه فعاله دی چې د ۵۰۰ څخه تر ۵۰۰۰ قطعو د تولید ظرفیت لری ددی تر څنګ چرګانو د هګیو او غوښې د تولید کوچنی فارمونه هم شته چې عمدتآ د کور د ښځو لخوا یې روزنه کیږی او مالکانی یې ښځی دی چې په ډیره لږه اندازه د مارکیټ غوښتنه پوره کولای شی.

## نتیجه ګیری:

پورته ارقامو ته په کتو او د تیرو تجربو په نظر کی نیولو سره د خوسکی او چرګانو د غوښی د تولید په برخه په یاد ولایت کې د پانګونی ډیر  فرصتونه شته که چیرته په دی برخه کې د خصوصی سکتور او دولت لخوا پانګونه وشی نو کولای شو چې د یو طرفه دخلګو د عوایدو په ډیریدو کې مرسته وکړی او د بله طرفه خلګو ته د کار زمینه مساعده شی.

## دزیربنا سکتور د اقتصادي او ټولنیزې پراختیای د موجوده سرچینو او پوتنشیل تحلیل:

د زیربنا په برخه کې سرمایه ګذاری په نسبی توګه اوږدمهاله او زیاتې پانګې ته اړتیا لری.

1. **د بریښنا او انرژی د تولید په برخه کې د پانګونې فرصتونه:**

د اوبو څخه د ډکو سیندونو موجودیت چې د زابل ولایت څخه تیریږي یو ملی ثروت دی چې کولای شی زراعت او د انرژی تولید ته تحول ورکړي.

زابل دوه لوی سیندونه لری چې د ارغنداب سیند او قلات سیند دی په دغو سیندونو د برښنا دبندونو په جوړولو او ترلو سره به سل زره ګونه  هکتاره زراعتی ځمکې خړوبې شی او هم به د زابل د ضرورت برښنا برابره شی.

**د ارغنداب په رود د اوبو دبند جوړول:**

د ارغنداب په رود د اوبو دبند جوړول چې ابتدایی سروې د قلات سندیزې حوزې ریاست لخوا ترسره شوی او د تخنیکی سروې د سرته رسولو لپاره د اوبو او انرژ وزارت ته وړاندیز شوی ترڅو دتخنیک سروې لپاره ټیم را واستوی.

دارغنداب رود اعضمي دسرعت اندازه په یوه ثانیه کې  280 متر مکعب ده د ارغنداب په رود باندې د خرنې بند چې ابتدایی سروې یې دقلات سندیزې حوزې ریاست لخوا شوې ده دنومورې څخه 40 ویالې سرچینه اخلی چې هره ویاله په یوه شپه او ورځ کې 120 جریبه ځمکه خړوبوې چې مجموعا 57600 جریبه ځمکه خړوبوی.

2. **د معدنونو داستخراج په برخه کې د سرمایه ګذاری فرصتونه:**

د کان کیندنې فعالیت د قانونې کولو ، په دوامداره توګه د کان کیندنې چارو نظارت او کنترول ، د منرالې سرچینو تثبیت او تشخیص او د محلې پانګونې لپاره د سهولت برابرولو په موخه د زابل ولایت د کانونو اداره فعاله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زابل ولایت کې په لاندې ډول سره کانونه شتون لري خو تر اوسه پدې برخه کې کومه پانګونه نده شوې .

| شمیره | د طبعي سرچینې نوم | د کان نوعیت | د کان آدرس |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکندلان مس | مس | میزانه ولسوالي |
| ۲ | د کفتر غار مس | مس | میزانه ولسوالي |
| ۳ | شیله سرخ مس | مس | ارغنداب ولسوالي |
| | اپتو شیله المونیم | آلومینیم | ارغنداب ولسوالي |
| ۵ | ظواهر معدنې سرب و جست لودین | سرب وجست | ارغنداب ولسوالي |
| ٦ | ظواهر معدنې مولیبدیم کندلان | مولیبدیم | میزانه ولسوالي |
| ۷ | ظواهر معدنې تنګستن میدان آهو | تنګستن | دایچوپان ولسوالي |
| ۸ | ظواهر قلعي وبریلیم میدان آهو | قع یو بریلیم | دایچوپان ولسوالي |
| ۹ | ظواهر معدنې طلا کندلان | طلا | میزانه ولسوالي |
| ۱۰ | ظواهر معدنې طلا لیودین | طلا | ارغنداب ولسوالي |
| ۱۱ | ظواهر معدنې سرپینتین لاجر | سرپنتین | میزانه ولسوالي |
| ۱۲ | آب های منرالي باراس | معدنې اوبه | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۳ | معدن ابرک کاریز | د ابرک ډبره | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۴ | سنګ های قیمتي بیتامور | یاقوت و زمرد | دایچوپان ولسوالي |
| ۱۵ | ظواهر معدنې کرومایت الکوز | کرومایت | شهر صفا ولسوالي |

د معدنون په برخه کې سرمایه ګذاری زیاتې پانګونې او تخنیکي ظرفیتونو ته ضرورت لري چې په اوسنی حالت کې دا ظرفیتونه په زابل ولایت او کلی توګه په افغانستان کې موجود نه دی په دې لحاظ د معدنونو په برخه کې باید بهرنی پانګونه جذب او د سرمایه ګذاری زمینه ورته برابره شی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما تر ټول مهم داده چې د کانونو او پترولیم وزرات دزابل ولایت د کانونو او معدني زیرمو سروې او د ظرفیت د تشخیص په برخه کې لازم اقدامات تر سره کړی ترڅو د وروسته ګامونه لپاره لاره هواره شي.

## د زابل د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو لومړیتوب بندی:

له شکه پرته زابل ولایت یو د هغه ولایاتو څخه ده چې په اقتصادی او تولیدی برخو کې بیلابیل ظرفیتونه لری چې ددغه ظرفیتونو د اقتصادی او ټولنیز ارزښت په نظرکې نیولو سره کولای شو په دی ولایت کې د کاری فرصتونو په رامنځته کولو، د فقر او غربت د سطحې په ټیټولو او همدارنګه دزابل د اقتصادی او ټولنیز پراختیا په برخه کې مهم او اساسي نقش ولوبوی چې دغه ظرفیتونه په لاندی ډول سره لومړیتوب بندی کیږی.

۱- **کرهنیز محصولات.**

۲- **صنعتی پارک او تولید.**

۳- **ګمرک، صادرات او واردات.**

## د لومړی، دویم او دریيم لومړیتوب لرونکو اقتصادی او تولیدی ظرفیتون تحلیل:

په لاندی ډول سره ځینی معیارونو ته اشاره کیږی چې دزابل ولایت د اقتصادی او تولیدی ظرفیتونو په تحلیل او څیړنه کې مرسته کولای شی.

### د اوسنی وضعیت تحلیل ( پروفایل ):

۱ – **کرهنیز محصولات:** دزابل ولایت کرهنیز محصولات یو دهغه مهمو ارزښت لرونکو محصولاتو څخه دی چې ددی ولایت د خلکو اقتصادی او ټولنیز ژوند او کاروبار په رامنځته کولو او د عاید په لوړیدو کې ډیر مهم رول لری داچې زابل تر ډیره په کرهنه ولاړ دی او ددی ولایت ٪۸۰ خلګ په زراعت او مالداری بوخت دی،ددی لاری خپل ژوند اوکاروبار مخکی بیایی، دزابل د اقلیم او آب هوا توافق دکرهنیز محصولاتو لکه بادامو،انګورو، کشمش، انځیرو،انارو او پستې سره او د اوبو د اړخه تر یو اندازی پوری د اوبو سرچینو شتون او یادو کرهنیزو محصولاتو ته نسبتآ دکمو اوبو اړتیا نو ځکه یی دغه ولایت تر ډیره حده په کرهنه ولاړ ده ددی ترڅنګ طبیعی زراعتی محصولات په اوس وخت کې په نړي کې ښه مارکیټ لری او تقاضا ورته زیاته ده، همدارنګه قیمت یی ښه ارزښت یی لوړ ده، ددی ترڅنګ په لره پانګونه سره ترلاسه کیږی، هر مسلکی او غیر مسلکی بزګر یی کرلی او حاصل ورڅخه په لاس راوړلی شی نوځکه دغه محصول هغه تولیدی ظرفیت ده چې زابل ولایت یی لری چې ددی ولایت د اقتصادی ودی، کاری فرصتونو او دندو په رامنځته کولو او فقراو غربت د سطحې کمولو کې ډیره زیاته مرسته کوی.

2 - **صنعتي پارک او صنعتی تولیدات:** دا چې زابل د ټرانزیت او حمل او نقل لهاړخه خورا مهم ستراتیژیک موقعیت لری، او همدارنګه زابل ولایت د تولید لپاره په پراخه پیمانه طبیعی منابع او د تولید لپاره په کافی اندازه سره خام مواد لری او دغه ولایت یو د هیواد د طبعی او معدنی سرچینو د لحاظ د غنی ولایاتو په کتار کې راځي مګر متاسفانه تر اوسه په هغه اندازه چې لازمه ده د زابل د تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو د تحلیل او څیړلو په برخه کې کار ندی شوی چې تر ډیره یی لامل ناامنی، د مرکزی حکومت نه پاملرنه ده او همدارنګه تر اوسه دلته یوازی دوه تولیدی فابریکی فعاله دی، په دی برخه لږه پانګونه شوی ده او ددی ولایت ډیری خوراکی او غیر خوراکی توکي د نورو ولایاتو څخه را واردیږی او یا هم د کاونډیو هیوادونو څخه را وړل کیږی نو ځکه دلته د پانګونی او صنعتی محصولاتو د تولید په برخه کې ښه فرصت شته، ددی ترڅنګ که په دغه ولایت کې صنعتی پارک جوړ شی پانګوال به نور هم تشویق شی تر څو تولیدی فابریکی جوړی او هغه مواد تولید کړی چې تقاضا ورته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- ګمرک، صادرات او واردات:**

ګمرکونه د هیواد د اقتصادي محاذ په توګه په اقتصادي پرمختګ کې مهم او اساسي رول لوبوي، د ټولنې د هوساینې او ساتنې تضمین کوي که چیرې یو هیواد وغواړي چې په اقتصادی، مالي او ټولنیزه برخه کې لاسته راوړنې ولرې نو باید خپل ټول سیاستونه او پروګرامونه د ګمرکونو د ارزښت او لومړیتوب په اساس سره ترتیب کړي، ګمرکونه د هیواد د تجارتي موادو په صادرولو او واردولو کې د ملا تیر حیثت لرې چې د هیواد ټول تجارتي توکې د ګمرکونو د لارې یا نورو هیوادونو ته صادریږي او یا هم د نورو هیوادونو څخه هیواد ته واردیږي. ګمرک د تجارت او راکړې ورکړې په پرمختګ کې اساسي رول لرې.دا چې د شملزو ولسوالي ګمرک د سپین بولدک د ګمرک په نسبت پاکستان نژدې دی او د یاد ګمرک په نسبت لږه فاصله لرې، په کم وخت کې او په اسانی سره توکې پرې صادر او واردیدلی شي. که چیرته دغه ګمرک فعاله شي نو ورسره به دیو طرفه د یادو دوه هیوادو په سوداګرۍ او راکړه ورکړه کې زیاتوالی راشي او هم به د توکو په کیفیت کې ښووالی راشي، همدارنګه به یې کیفیت کنټرول شي ددې ترڅنګ به د دولت په عوایدو کې زیاتوالی راشي او د غیر قانوني او توکو د حمل او نقل مخنیوی به وشي. دا چې په دغه لویه لار پراخ بازارونه شته لوی نفوس پرې پروت دی نو ددې ګمرک په فعاله کیدو سره به دیو طرفه د زابل د وچې او لمدې میوې صادرات پاکستان هیواد ته پخپل وخت او کم مصرف سره ورسیږي، د بله طرفه به ددې لارې خلګو ته په لویه پیمانه ګټه ورسیږي او کاروبار به ورسره غوړیږي همدارنګه خلګو ته به نوی دندې پیدا او د بیکارۍ سطحه به ټیټه او د سړې سر عاید کې به زیاتوالی راشي چې دغه کړنه د زابل د اقتصادی او ټولنیزې پراختیا په انکشاف کې مهم او اساسي رول درلودلی شي.

## د تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو د اغیزمنتوب د تحلیل ارزیابی:

**۱- کرهنیز محصولات:** زابل ولایت یو د هغه ولایاتو د جملې څخه ده چې په پراخه پیمانه میوه لرونکې ونې او باغونه لرې او یو د حاصل خیزو کرهنیزو ځمکو لرونکو ولایاتو څخه شمیرل کیږي ددې تر څنګ ددې ولایت آب هوا د کرهنې او باغونو د کښینولو او حاصلاتو تر لاسه کولو لپاره ښه او مناسب ځای او خاوره ده. د زابل ولایت (55,553) هکتاره ځمکه د بادامو انځیرو، انګورو انارو او پستې د باغونو پواسطه پوښل شوی ده. چې په کلني توګه ددې باغونو څخه په تخمینی ډول سره (1,28,441) ټنه میوې او حاصل تر لاسه کیږي ددغه کرهنیزو محصولاتو کلنې تخمیني عاید (15,016,971,428) ملیارده افغانی کیږي چې کولای شي ددې ولایت د اقتصاد په غوړیدا، د غربت د سطحې په ټیټدو کې ستر او اساسی رول ولوبوی.

**۲- صنعتی تولیدات او صنعتي پارک:** په زابل ولایت کې تر اوسه کومه غټه تولیدی او صنعتی فاریکه ندہ جوړه شوی، یوازې دوه کوچنې فابریکې شته چې یوه د پلاستیکی پایپ جوړوني او بله د یخې جوړوني فابریکه ده په داسې حال کې چې دلته د پانګونې او صنعتي فابریکو د فعاله کولو او توکو د تولید او پروسس په برخه کې ښه فرصتونه شته چې خصوصی سکتور کولای شي چې ددغه فرصتونو څخه ګټه واخلي دلته پانګونه وکړي.

**۳- د شملزو ګمرک، صادرات او واردات: د** شملزو ګمرک د ټرانزیټ او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګرۍ د غوړیدا په برخه کې ښه او اساسی رول لوبولی شي دغه ګمرک دکندهار ولایت د سپین بولدک د ګمرک په نسبت پاکستان ته د حمل او نقل لپاره د زابل ولایت او مرکزی ولایاتو لپاره نژدې او په ښه ستراتیژیک موقعیت کې قرار لرې. د شملزو ګمرک د مرکز قلات څخه (151) کیلو متره فاصله لرې چې د یادی لوی لارې (۴۸) کیلو متره سړک پوخ ده همدارنګه اوس په ورځنی ډول ددې لارې په لس ګونو موټورنه د دواړه هیوادونو ترمنځ تګ راتګ کوي، او توکې د ګمرکی محصول څخه پرته بغیر لدې چې ددې محصولاتو عواید ددلت خزانې ته ولاړ شي حمل او نقل کیږی که چیرته دغه ګمرک رسمې شي نو دغه راکړه ورکړه او صادراتو او وارداتو ارزښت به په کال کې تر میلونو افغانیو پورې ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ولایت د تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو د پاینبت تحلیل:

**۱- کرهنیز محصولات:** زابل ولایت د هیواد د هغو ولایاتو د جملې څخه شمیرل کیږی چې په لوړه پیمانه کرهنیز محصولات تولیدوی او د وچې او لندی میوی لکه بادام، کشمش، انګور، آنار ، انځیر او داسی نوری په پراخه اندازه لری، دغه کرهنیز محصولات کولای شی د افغانستان بلخصوص د زابل د اقتصاد په غوړیدا او د یاد هیواد د صادراتی اموالو په برخه کې مهم نقش ولوبوی وچه میوه د هیواد د مهمو صادراتی محصولاتو له جملې څخه شمیرل کیږی.

**۲- صنعتی پارک او صنعت:** داچې صنعت او تولید د یو هیواد په پرمختګ، بیاروغونه، د کاری فرصتونو په رامنځته کولو او د غربت د کچې په کمولو کې مهم او اساسی رول لری نو دی ټکی ته په کتو سره د صنعتی پارک او د صنعتی او تولیدی فابریکو ارزښت د زابل ولایت په پرمختګ کې خورا مهم او اساسی رول لوبولی شی او کولی شی زابل د نورو ولایتونو سره د پرمختګ په کتار کې راولی، دا چې په زابل کې تر اوسه د صنعت په برخه کې کومه ځانګړی پانګونه نده شوی او دلته دصنعت او تولید په برخه کې پانګونی ته ډیره زیاته اړتیا لیدل کیږی اوهمدارنګه په دی برخه د پانګونی ډیر ښه او پراخ فرصتونه شته چې کولای د زابل په اقتصادی غوړیدا کې تر ډیره مرسته وکړی او ورسره په څنګ د هیواد اقتصادی او ټولنیزه پراختیا نوره هم وده وکړی ، دغربت او فقر کچه ټیټه شی.

**۳ – د شملزو ګمرک:** ګمرکونه او ټرانزیټ د هیواد د اقتصاد په انکشاف او د سوداګری په غوړیدا کې ډیر مهم او اساسی رول لوبوی د نورو هیوادونو سره د ګمرکی لارو په پرانیستلو سره کولای شو چې د بهرنیو هیوادونو څخه د ښه کیفیت توکی هیواد ته په قانونی شکل سره را وارد کړو او همدانګه هغه توکی چې د هیواد په داخل کې تولیدیږی ددی لاری نورو هیوادونو ته صادر کړو او ورسره به دصادراتو د برخې د عوایدو په ډیریدو کې مرسته وکړی. زابل د ګاونډي هیواد پاکستان سره پوله لری، د دواړو هیوادونو تر منځ په فرضی کرښه باندی د ګمرک لپاره ښه او مناسبه ساحه شتون لری چې کولای شی توکی او محصولات په اسانی او لږ وخت سره حمل او نقل کړی.

### د غوښتنې او تقاضا تحلیل:

**۱- کرهنیز محصولات:** په نړی کې کرهنیز توکو او محصولاتو ته ورځ په ورځ اړتیا او تقاضا ډیریږی او غوښتنه یې په مارکیټ کې لوړیږی، بادام، انځیر، کشمش، آنار، پسته او نوری میوی په مختلفو برخو کې کارول کیږی او ورڅخه ګټه اخیستل کیږی لکه (دوا، درمل، د خوراکې توکو په توګه ورڅخه ګټه اخیستل) او داسی نور چې دی اجناسو او موادو ته په اوسنې عصر کې ډیره زیاته اړتیا محسوسیږی په همدی اساس ددغه کرهنیزو محصولاتو بیه په مارکیټ کې لوړه ده، زابل دغه پورته ذکر شوی میوی په پراخه اندازه لری دغه محصولات اوس ګاونډیو هیوادونو لکه پاکستان، هندوستان، ایران او همدارنګه عربی او اروپایی هیوادونو ته صادریږی او په نړیواله او منطقی سطحه د زابل میوو ته تقاضا ډیره لوړه ده، ددغه میوو بیه او کیفیت دواړه ډیر ښه دی نو څکه د زابل ولایت لپاره دغه زراعتی محصول یو ښه عایداتی سرچینه او د اقتصادی ودی لپاره یو ښه بدیل کیدلی شی، په زابل ولایت د کرهنیزو محصولاتو د پانګونی او سوداګری په برخه کې په لویه پیمانه فرصتونه شته که چیرته ملي او نړیوال سوداګر په دی برخه کې پانګونه وګړی دغه کړنه به د یو طرفه ددغه محصول کرکیلې ته وده ورکړی او د بلە طرفه به د کرهنیزو محصولاتو څخه په ډیره لوړه اندازه عاید تر لاسه شی.

**۲- صنعتی تولیدات او صنعتی پارک:** داچې په اوسنی عصر کې د نړی اقتصادی وده او ټولنیزه پراختیا تر ډیره حده په صنعتې تولیداتو باندی ولاړه ده په افغانستان کې عموماَ په څلورو برخو کې پانګونه کیږی او په یادو برخو کې پانګونی ته خورا زیاته اړتیا لیدل کیږ ي. ۱-کانونه او د هغو د را ایستولو په برخه کې پانګونه، ۲- صنعتی کارخانی لکه د بوټونو، چمپلو، پلاستیکی او چینی لوښی، پایپ جوونه، خوراکی او غیر خوراکی توکی مشروبات او داسی نور، ۳- برق او اوبه، ۴ – په ودانیزو برخو او د کورونو د جوړولو په برخه کې د پانګونی اړتیا او د خلګو تقاضا، په زابل ولایت کې په صنعتی تولیداتو باندی پانګونه یوه ښه فرصت دی او په دی برخه کې پانګونی ته ډیره زیاته اړتیا ده داچې په زابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولایت کې تر اوسه د صنعت په برخه کې کومه ځانګړې پانګونه نده شوې،نو ځکه د صنعت په برخه کې پانګونه د زابل د اقتصادي ودې او ټولنيزې پراختيا په وده، دکارۍ فرصتونو په رامنځته کولو او د غربت او فقر د سطحې په ټيټولو کې مهم نقش لرلی شي چې کولای شی د زابل تر څنګ د ټول هيواد د اقتصاد په غوړيدا کې مرسته وکړي.

**۳- د شملزو ګمرک او صادرات او واردات:** که چيرته د شملزو ګمرک فعاله شي نو ورسره به د زابل داخلي توليدات ، کرهنيز محصولات او وچه ميوه چې تر ډيره حده د پاکستان هيواد ته صادريږي په اسانی، لږ وخت او ټيټ قيمت سره ياد هيواد ته انتقال شي او ددی سره په څنګ کې به په زابل کې صنعتي پارک جوړ او توليدي فابريکې به پکې په فعاليت شروع وکړي نو سوداګر او صنعت کاران به وکولای شي چې په اسانی د توليد لپاره خام مواد د پاکستان هيواد څخه راوارد کړي، دغه پورته ټکو ته په کتو سره دغه ګمرک ته ډيره زياته اړتيا محسوسيږي چې ګټه به يې خصوصي سکتور او دولت دواړو ته ورسيږي او ورسره په څنګ کې به کاري فرصتونه هم رامنځته شي.

## د پراختيايي ستونزو په نښه کول:

۱- **کرهنيز محصولات:** دکرهنيزو محصولات په برخه اساسي او بنيادي ستونزه د اصلاح شويو تخمونو نشتون ده داسې نهالګی چې ددی ولايت د آب هوا سره تطابق ولري او اصلاح شوی وی تر څو ددغو ميوو په حاصلاتو کې نور هم زياتوالی راشي او همدارنګه د اوبو کمښت ده چې تر ډيره حده د ونو ميوو د کمښت او يا لمنځه تلو سبب کيږي، ددی سره په څنګ د وچو ميوو د پروسس د يو لوی فابريکې نشتون ده ترڅو هلته دغه ميوی پروسس، بسته بندي او بيا په معياري شکل سره خارجي هيوادونو ته صادر شي. که د زابل ميوو ته د پروسس او بسته بندي فابريکې جوړې شي او همدارنګه دغه محصولاتو ته په نورو هيوادونو کې بازارمونده وشي او سوداګر يی پير ته تشويق شي نو کولای شو چې دغه محصولاتو ته وده ورکړو او همدارنګه يی قيمت لوړ کړو تر څو يی يو خه ګټه بزګرانو محلي سوداګرو ته هم ورسيږي. همدارنګه که اصلاح شوی او ددی ولايت د اقليم سره تجربه شوی نوی نهالګی توزيع شي او تر يو حده د اوبه کولو قطريی سيستم تطبيق شي نو په لوړه کچه محصول به ورځخه په لاس راشي.

۲- **صنعتي پارک صنعتي توليدات:** دا چې په زابل کې صنعتي فابريکې شتون نه لري او تراوسه چا د صنعت په برخه کې پانګونه نده کړې چې اساسي علت يی په دی ولايت کې د صنعتي پارک نه شتون ده که چيرته په زابل کې صنعتي پارک فعاله شي او پانګوالو ته د فابريکو د جوړيدو لپاره ځمکه توزيع او همدارنګه ياد ښارګوټی کې د برق ستونزه حل شي او ورسره په څنګ يی سږکونه پاخه شي نو بيا هر څوک چې نغدی پيسی او پانګه لری او د پانګونی زمينه ورته مساعده شي ليواله کيږی چې دلته پانګونه وکړی او فابريکی جوړی کړی.

۳- **ګمرک، صادرات او واردات:** که چيرته د شملزو ګمرک په رسمي ډول سره فعاله شي او همدارنګه ددی ګمرک په اوږدو کې پاتې ۱۰۳ کيلو متره سړک په اساسي ډول سره جوړ شي او هلته هغه ضروری ګمرکی تاسيسات چې د ګمرک د جوړيدو لپاره ورته اړتيا ده جوړ شي نو بيا کولای شو چې دلته خلګ دغه ګمرک په برخه کې خصوصی سکتور پانګونی ته تشويق کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عوایدو تحلیل:

**۱- کرهنیز محصولات:** کرهنیز محصولات لکه بادام، انار، انځیر، شکرپاره، کشمش او داسی نور د زابل ولایت خلګو د عوایدو او کاروبار اصلی سرچینی دی چې ددی لاری خپل کاروبار مخکی بیایی او راکړه ورکړه یی کوی، اوس په تخمینی ډول سره زابل په کال کې د کرهنیزو محصولاتو له درکه (15,016,971,428)ملیارده افغانی په کلنې ډول تر لاسه کیږی که چیرته ددغه محصولاتو په وراندی پورته د اساسی ستونزو په برخه کې ذکر شوی ستونزی مشکلات حل شی دغه عواید به تقریباً په کال کې تر (۲۵)ملیارده افغانی ورسیږی.

**۲- صنعتی پارک او تولیدات:** اوس فعلاً زابل د صنعت له برخي په ډیره لږ اندازه عواید لری چې دغه بیخي د یادونی وړ هم ندی ځکه دلته نه صنعتی پارک فعاله ده او نه هم تولیدی فابریکی شتون لری که چیرته د صنعت په برخه کې دغه پورته د اساسی ستونزو په برخه کې ذکر شوی ستونزی مشکلات حل شی نو له یوی خوا به د صنعت په برخه کې پانګونه وشی او همدارنګه په لومړیو کلنو کې په تخمینی ډول سره تر (۱۵۰) میلیونه افغانی عواید او ګټه تر لاسه شی چې په راتلونکو کلونو کې به دغه اندازه دوه چنده شی.

**۳- ګمرک او صادرات او واردات:** دا چې اوس د پخوا په نسبت د پاکستان او افغانستان تر منځ سوداګری کمه شوی ده او تر ډیره حده یی ستونزه د ټرانزیټ ده که د شملزو ګمرک فعاله شی اوسنی د سوداګری اندازه به د ۲ میلیارده څخه تر (۲،۳) ملیارده پوری ورسیږی چې په دی سره به د زابل په داخلی عوایدو کې تر (۲۰٪) زیاتوالی راشی.

## د کاری فرصتونو رامنځته کول:

**۱- کرهنیز محصولات:** داچې زابل یو زراعتی او کرهنیز ولایت دی او ددی ولایت تقریباً ۸۰٪ وګړی په کرهنه او مالداری بوخت دی بلخصوص وچې او لندی میوو د کرکیلی برخه کې چې تقریباً تر (۱۰۰۰۰۰) پوری د میوو د حاصلاتو په ترلاسه کولو او سوداګری باندی مصروف که ددغه محصولاتو په برخه ذکر شوی ستونزی حل شی نو ډیر خلګ به یی کرکیلی او سوداګری ته مخه کړی چې دغه بدلون کولای شی تر (۱۵۰۰۰۰۰) یولک پنځوس زره خلګو ته کار پیدا کړی.

**۲- صنعت او تولیدات:** په زابل کې د صنعت په برخه کې یوازی تر (۵۰) تنه پوری کار کوی که صنعتی پارک جوړ او تولیدی فابریکی په کار شروع وکړی نو تر (۲۰۰۰) کسانو ته د کار زمینه برابریږی.

**۳- ګمرک، صادرات او واردات:** د شملزو د ګمرک په فعاله کیدو سره به په لوړه کچه کاری فرصتونه رامنځته شی او همدارنګه د زابل په کرهنیزو حاصلاتو، صنعتی تولیداتو په عوایدو او کاری فرصتونو په برخه کې زیاتوالی راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وروستي پايله (نتيجه گيرى):

د زابل ولایت اقتصادي ظرفیتونه د تولید  پراختیا لپاره د جغرافیې، اقلیمي او ستراتیژیکي موقعیت او جوړښت په لحاظ ددې ولایت د اقتصادي ودې او ټولنيزې پراختيا لپاره ښه بديل او غوره ستراتيژۍ کيدلی شي. د زابل ولایت کرهنيز محصولات، د صنعتي پارک او فابریکو فعاله کیدل او جوړيدل او ددې ولایت د شملزو د گمرک رسمی کيدل او گټه ورځخه اخيستل به په لوړه کچه په زابل کې اقتصادي وده، کاري فرصتونه او د غربت اندازه را ټيټه کړي او ورسره په څنګ کې به د ټول هيواد اقتصادي غوړيدا ته زمينه برابره کړي.

**۱- کرهنیز محصولات:** زابل ولایت په عمومی ډول (152000) هکتاره کرهنيزه او زراعتي ځمکه لري چې ددې ځمکې (55,553) هکتاره د میوه لرونکو ونو لکه (بادام، انځير،انگور، انار، پسته او منو) پواسطه پوښل شوی ده ددغه میوو کلني حاصلات(128441) چې  په کال کې په تخمينی توگه (15,016,971,428) ملیارده افغانی عواید ورڅخه په لاس راځي او ددې تر څنګ په دغه برخه کې تر یو لک پوری کسان په کار بوخت دی که چیرته د کرهنیزو محصولاتو د اصلاح او ستونزو د حل لاری کولو پروگرام په لاره واچول شي نو کولای شو چې ددی محصولاتو کلني اندازه تر (150000) ټنه پوری ورسوو او کلنی عواید تر (25) ملیارده افغانی پوری ورسوو او همدانگه تر (120000) کاری فرصتونه رامنځته کړو دغه چاره کولای شی چې د زابل د صادراتو په گراف کې نور هم زياتوالي راولي او د خلگو د ژوند سطحه ورسره لوړه شي.

**۲- صنعتی پارک او صنتعی تولیدات:** په افغانستان کې په عمومي توگه په څلورو برخو کې پانگونه کیږی (برق، اوبه، معدنونه، کورجوړونه، ودانی جوړونه او صنعتی او تولیدی فابریکی) چې په دغه برخو کې تر اوسه په زابل کې په ډیره کمه اندازه یا هیڅ پانگونه نده شوی په زابل کې یوازې دوه تولیدی فابریکی فعاله دی چې تر (۵۰) پوری کسان پکې کار کوی ددی تر څنګ زابل تر اوسه صنعتی پارک نه لری ترڅو پانگوال هلته فابریکی جوړې او داخلی تولیدات خلگو ته وړاندی کړی که چیرته صنعتی ښارگوټي فعاله او د فابریکو د مالکانو اړتیاوی پوره شی نو په لومړی سره کې به په تخمینی شکل سره تر (۱۵۰) میلیونه افغانی پانگونی په صنعتی ښارگوټي کې وشی چې په دی چاري سره به په ابتدآ کې تر (۲۰۰۰) پوری کسانو ته د کار زمینه برابره شی چې په څوکلونو کې  به پانگونه او کاری فرصتونه (۳۰٪) زیاتوالی راتلی شي.

**۳- د شملزو گمرگ، صادرات او واردات:** دشملزو گمرک چې د قلات ښار څخه (۱۵۱) کيلو متره فاصله لري او ددې لوی لاری (۴۸) کيلو متره سړک د قلات ښار څخه د شينکي ولسوالی تر سره غره پوری پوخ ده او پاتی (۱۰۳) کيلو متره يی خامه ده دغه گمرک چې تر اوسه په رسمي ډول نده فعاله شوی د شملزو ولسوالی د ځنځير په سیمه کې موقعیت لری او د پاکستان هیواد د بلوچیستان ايالت د بادينی او ملسم باغ د سیمو څخه تیریږی او ددغه ایالت کوټی ښار ته رسیږی ددغه گمرک په فعاله کیدو سره به افغانستان او پاکستان هيواد په سوداگريزو او ترانزيټي اړيکو کې نوره هم پراختیا راشی او د دواړو هیوادونو په صادراتو او وارداتو کې تر (۱۰٪) زیاتوالی راشی. دغه چاره به په مستقیم ډول د زابل ولایت د کرهنیزو محصولات لپاره د مارکيټ په رامنځته کولو او د حاصلاتو او عوایدو په زیاتوالی کې رول لوبوی چې ورسره به زابل په اقتصادی او ټولنیزه برخه کې وده وکړی، کاری فرصتونه او بوختیاوی به رامنځته شی.

پایله: که په عمومی ډول سره د زابل دغه دري لومړیتوب لرونکو تولیدی او اقتصادی ظرفیتونو ته ارزښت ورکړل شی او دغه ظرفیتونه په کار ولویږی نو ددی ولایت اقتصاد به په کال کې تر (۲،۵٪) پوری وده وکړی او د غربت او فقر په کچه کې به تر (۵٪) پوری کموالی راشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ستونزې او ننګونې:

هغه ستونزې او ننګونې چې د زابل ولایت د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو د ودې او انکشاف پر وړاندې دي په لاندې ډول سره پیژندل شوې دي.

**۱- کرهنیز محصولات:** د زابل ولایت د کرهنیزې ودې او د محصولاتو د کمیت او کیفیت د لوړېدو پروړاندې عمده او اصلي ستونزه دغه دي.

- وچکالي او د اوبو د سطحې ټیټوالی.
- د اصلاح شویو نهالګیو او تخمونو کموالي چې ددې ولایت اقلیم او آب هوا سره تطابق لرې تر څو ددغه نهالګیو څخه په لوړ کمیت او ښه کیفیت سره محصول تر لاسه شي.
- د وچې میوې د پروسس او بسته بندی د فابریکې لوی مارکیټ نشتون او د لندي میوې  د ساتنې خوني نشتون.
- د نړیوالو پانګوالو لخوا د کرهنیزو محصولاتو په برخه کې پانګونې ته کمه علاقه.
- د کرهنیزو محصولاتو لپاره د حکومت لخوا د امکاناتو نه برابرول او په نړیواله سطحه ددغه محصولاتو لپاره  بازازمونډنه نه کول.

**۲- صنعتي تولیدات او صنعتي پارک:**

- زابل کې تر اوسه صنعتي پارک ندی فعاله شوی.
- د صنعتي فابریکو لپاره برق نشته او همدارنګه د تولیدي او صنعتي فابریکو لپاره ځمکې نه توزیع تر څو پانګوال په هغه کې فابریکې جوړ کړې.
- د صنعت او تولیداتو په برخه کې د پانګوالو کمه علاقه او د زابل پرځای په نورو ولایاتو کې  پانګونه کول.
- په زابل کې په پراخه پیمانه معدني زیرمې شته مګر تر اوسه په دغه برخه کې دقیقه سروې نده تر سره شوې تر څو ددغه معدني زیرمو ارزښت معلوم کړې.

**۳- د شملزو ګمرک او صادرات او واردات:**

- د زابل مرکز قلات څخه د شملزو ګمرک تر سرحدي سیمې د سرک حالت خراب  دی یواځې ۴۸ کیلومتره سرک د مرکز قلات څخه د شنیکی تر سره غره کانګریت دی.
- د شملزو ګمرک مسیر د امنیت له اړخه خوندي نه دی.
- د شملزو د ځنځیر په سیمه کې هیڅ لازمي تاسیسات او زیربناوې شتون نلری.
- د شملزو ګمرک سیمه د دولت تر کنترول لاندې نه ده او ددولت د مخالفینو لخوا کنترولیږي.
- د تا سیساتو جوړولو لپاره د کافي بودجې نشتون.
- د پاکستان خواته د بادیني، مسلیم باغ او بلوچستان په سیمو کې د شملزو ګمرک په مسیر د لازمو زیربناوو نشتون.

### وړاندیزونه او حل لارې:

دغه لاندې حل لارې د زابل ولایت د اقتصادي او تولیدي ظرفیتونو د پراختیا او ودې سبب کیدلی شي.

**۱-  کرهنیز محصولات:**

زابل ولایت د هیواد  د هغه ولایاتو د جملې څخه ده چې تقریباً  ٪۸۰ وګړې یې په کرهنه او مالداری باندې بوخت دي، ددې لپاره چې د اوبو سطحه را لوړه شي، او وچکالې  لمنځه ولاړه شي نو باید  د اوبو  بندونه، کوچنې او لوی چیک ډیمونه د ولایت په مختلفو برخو کې جوړ شي، او همدارنګه د اوبه کولو معیاري او عصري د قطري سیستم مروج شي، د اصلاح شویو نهالګیو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قریو جوړول او اصلاح شوی نهالگی او تخمونه چې دد ولایت د اقلیم سره تطابق ولری و بزگرانو ته توزیع شی ترڅو د محصولات زیات او کیفیت یې لوړ او په لوړ قیمت سره په بازار کې خرڅ شي. ددی لپاره چې په ښه قیمت او د نړیوال بازار د غوښتونو سره بازار ته عرضه شی نو باید د کرهنیزو محصولاتو د پروسس او بسته بندي لپاره فابریکه جوړه شی چې په ورځ کې د (۵) ټنه میوی د پروسس او بسته بندی ظرفیت ولری فعاله شی او ددی سره په خوا کې د حکومت لخوا د بازارموندنی او نړیوال مارکیټ ته د هغه معرفی کولو پروگرامونه په لاره واچول شی او دغه محصول نړیوال مارکیټ ته ور وپیژندل شی او همدرانگه ملی او نړیوال پانگوال په دی برخه کې پانگونی ته تشویق شی.

**۲- صنعتي تولیدات او صنعتی پارک:** د زابل ولایت په صنعتی ولایت بدلول او په دغه برخه کې د پانگونی لپاره باید په زابل کې صنعتی ښارگوټی جوړ شی او پانگوال ته د فابریکو د جوړیدو لپاره ځمکه توزیع شی او په دی ښارگوټي کې د برق ، سړک او اوبو امکانات برابرشی .همدرانگه د پانگوالو لپاره دکوچنیو او لویو پورونو او ضامنتونو په برخه کې اسانتیاوی برابره شی، او همدرانگه ددی تولیداتو د صادرولو په برخه کې امکانات برابر شی او د ټرانزیټ په برخه کې شته ستونزی حل شی او ددی ترڅنگ شملزو گمرک چې گاونډي هیواد پاکستان ته نژدی لاره ده باید دغه بندر رسمی شی.

**۳- گمرک، صادرات او واردات:** ددی لپاره چې د افغانستان او پاکستان تر منځ په صادراتو او وارداتو کې نور هم زیاتوالی راشی او دزابل ولایت تولیدات د نړی او منطقی هیوادونو ته په وخت سره ورسیږی او همدارنگه دافغان دولت په عوایدو کې زیاتوالی راشي او په زابل کې نوی کاری فرصتونه رامنځته شی نو باید د شملزو گمرک ته قانونی بڼه ورکړل شی او د هغه توکو چې ددی لاری په غیر قانونی شکل سره په قاچاقی ډول په ټیټ کیفیت سره واردیږی مخنیوی یی وشی او همدارنگه ددی لاری په اوږدو کې ۱۰۳ کیلو متره پاتی سړک په اساسی شکل سره ورغول شی او ددی سره په خوا کې د گمرک په امتداد کې زیربناوی جوړی شی تر څو په دغه لویه لاره په پرتو ولسوالیگانو کې د امنیت د ټینگښت، بیارغونی او د بیکاری د سطحه په ټیټدو کې مرسته وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه او سرچینې:

**د زابل د ۱۳۹۹ کال ولايتي اقتصادي او ټولنيز پروفايل**

**د کرهنې او مالدارۍ رياست**

**معتبر انټرنيټي سايټونه**

**د ولايت له سوداګرو څخه د تلفون او مصاحبو له لارې د معلوماتو ترلاسه کول**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**